



Download from: ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کـتـاب نـوم:محرم الحرام او د کربلا شهيدان

ليکوال :: علامه محمد معين الدين أبوالفضل

خـــپـرونـکـــی: بېنوا انټرنېټ پاڼه

د چاپ ټول حقوق له ليکوال او بېنوا پاڼې سره خوندي دي.

Download from: ketabton.com

## محرم الحرام او د کربلا شهیدان

بسمه تعالی !!

محترمو ورونو ! په دې لړۍ کښې به وتاسي محترمو ته د �أشهرالحرم �یعني د حرامو یا حرمت والا میاشتوبیان ، او د محرم الحرام د میاشتي فضیلت او د � عاشوراَء� په ورځ کښې د طاعت او عبادت فضیلتونه ، او دارنګه د عاشوراَء په ورځ کښې تاریخي پیښې او بالآخره د کربلا د شهیدانو په اړه په زړه پوري معلوماتونه تقدیم کړه سي

البته په دغه لومړۍ برخه کښې به و تاسي محترمو ته د حرامو میاشتواو خصوصًا د محرم الحرام د میاشتي په باره کښې په مختصر ډول تفصیل وړاندي کړ سي.

الله (جل جلاله) په قرآنکریم کښې فرمایلي دي:

إن عدة الشهورِ عندَ اللهِ اثنی عشرَ شهرًا في کتابِ اللهِ ( الی قوله تعالی) منها أربعة حرم.

یعني : بېشکه شمیر د میاشتو ، په نزد د الله تعالی (چي نوشته دئ په لوح محفوظ کښې ) دوولس میاشتي دي .

یعني ټول قمري کال دوولس میاشتي دئ ، چي له دغو دوولسو میاشتو څخه څلور میاشتي حرامي ، یا د حرمت والا میاشتي دي ، چي په عربي لُغت کښې د دغو دوولسو میاشتو نومونه په دې ترتیب دي:

مُحَرَّم ، صَفَر ، رَبِیعُ الأول ، ربیع الآخر ، جِمَادي الأولی ، جمادي الأخری ، رَجَب ، شُعبان ، رمضان ، شوال ، ذوالقعدة ، ذوالحجة.

لکه چي یوه عالِم په فارسي بیتو کښې په دې ډول دغه نومونه ذکر کړیدي ، رباعي:

از محرم چو گذشتي چي بود مــاه صفر

بعد از وَی دوربیـــــع و دو جــمیدِ دگـــر

پس رَجَب باشد وشعبان رمضان وشوال

باز ذوالقعدة و ذوالحجة شد اثـــنی عـشر.

او د رومیانو په ژبه یې نومونه په دې ډول دي :

تشرینِ اول ، تشرین ثاني ، کانون اول ، کانون ثاني ، شَبات ، ادار ، نَیسان ، ایار ، حَذیران ، تموز ، آب ، ایاوَل.

په فارسي زبان یې نومونه په دې شرحه دي:

Download from: ketabton.com

پروردين ، اردِبهشت ، خرداد ، تير ، مرداد ، شهريور ، مِهر ، آبان ، آذر ، دِې ، بهمن،اسفندارمز .

او حرامي مياشتي له دغو دوولسو څخه څلور مياشتي دي ، چي رجَب ، ذوالقعدة ، ذوالحجة او د محرم الحرام مياشت ده.

و دغو څلورو مياشتو ته په دې وجه � أشهرِ حُرُم � يعني حرامي مياشتي و يلي کيږي چي يو خو تر إسلام په له مخه دورو کښي او د جاهليت په زمانه کښي عربو د يوه او بل و مال او و نفس ته تعرض کول په دغو څلورو مياشتو کښي حرام باله ، سره له دې چي غلا ، ډاکه ، لوټ ، قطع اوشکونه د لاري ، ناروا قتل ، يو پر بل باندي ظلم او تيرئ ددوی له إفتخاري عنعناتو څخه ول ، خو چي کله به په دخو حرامو مياشتو کښي يوه مياشت رابره سوه نو بيا به دوی ل دغو ټولو کارو څخه لاس اخستئ او ددغي مياشتي عزت او إحترام بې کاوئ.

کله چي د إسلام دور راغلئ نو په إسلام کښي هم تر ډيري مودې پوري ددغو څلورو مياشتو إحترام او عزت کيدئ ، او مسلمانان په دې سره له الــهي لوري څخه مأمور سوي وو چي په دغو مياشتو کښي به دوی ابتداء په جنګ له کافرانو سره نکوي .

علماوو په دې باره کښي إختلاف کړئ دئ چي ايا دغه حُکم اوس هم باقي دئ او که منسوخ سوئ دئ ؟ چي تفصيل يې په کتابو کښي د تفسير او په �موسوعة الكويتية� او غيره کښي مذکور دئ .

د محرم الحرام د مياشتي فضيلت :

د إسلام پيغمبر په هغه مبارک حديث کښي چي مسلم ، أبوداؤد ، ترمذي ، نسائي او إبن ماجه يې سره له يو څه تفاوته روايت کړئ دئ فرمايلي دي :

أفضل الصيامِ بعدَ رمضان شهرُ اللهِ المُحَرَّم ، وأفضل الصلاة بعدَ الفريضَةِ صلاة الليل.

يعني: بهترينه د روژې (يعني بهترينه مياشت د روژې لپاره) وروسته له رمضان شريف څخه مياشت د الله تعالی ده چي مُحَرَّم ده، او بهترين د لمانځه وروسته له فرضي لمانځه څخه د شپې لمونځ دئ (يعني چي عبارت دئ له لمانځه څخه د تهجد).

إمام نووي (رح) فرمايلي دي چي د إسلام پيغمر په اول کښي د شُعبان په مياشت کي روژې نيولې (يعني د شعبان مياشت يې أفضله ګڼله ) او بيا يې د خپل حيات په اخير کښي د محرم الحرام مياشت بهتره وګڼله ( كذا في حاشية الترغيب والترهيب).

همدارنګه د إسلام پيغمبر (صلى الله عليه وسلم ) په هغه مبارک حديث کښي چي طبراني يې په معجم صغير کښي روايت کړئ دئ فرمايلي دي:

Download from: ketabton.com

و مَنْ صامَ یومًا مِنَ المحرم فلَه بکل یومٍ ثلاثونَ یومًا .

مطلب ددغه مبارک حدیث دادئ چي د محرم الحرام په میاشت کښي که څوک یو ورځ روژه ونیسي نو ددې ثواب به دونه وي لکه په بل وخت کښي چي پوره میاشت روژه ونیسي .

محترمو وروڼو ! د محرم الحرام د میاشتي د شان عظمت به د عاشورآء د ورځي چي ددغي میاشتي لسمه ورځ ده د بیاناتو په سلسله کښي ښه درته ښکاره سي .

)والسلام ومن الله التوفیق(

Download from: ketabton.com

## د عاشورآء د ورځي فضيلت

بسمه تعالـــــــی !!!

له حضرت إبن عباس (رض) څخه روات دئ چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي چي هر څوک چي روژه ونیسي په ورځ کښي د عاشورآء نو الله (جل جلاله) به د لسوزرو فرشتو ثواب وده ته ورکړي ، او هر څوک چي روژه ونیسي په ورځ کښ د عاشورآء نو وربه کړ سي وده ته ثواب د لسوزرو شهیدانو او دارنگه ثواب د لسوزرو حاجیانو او عمره کونکیو ، او چا که د یوه یتیم پر سر باندي لاس تیر کړ (یعني د شفقت او مهربانۍ له وجي ) د عاشورآء په ورځ نو ددغه یتیم د سر د هر وریښته په عوض کښي به الله پاک وده ته یوه درجه په جنت کښي ورلوړه کړي ، او هر څوک چي د عاشورآء په شپه و یوه روژه دار ته د روژه مات شئ ورکړي نو گواکي ټول أمت د محمد (صلی الله علیه وسم) دده په حضور کښي (یعني ددغه سړي) په ډوډۍ روژ ماته کړه او گواکي ټول أمت د رسول (صلی الله علیه وسلم ) ته یې تر موړتیا پوري ډوډۍ ورکړه (کذا في الغنية وتنبيه الغافلين ).

همدارنگه داسلام پیغمبر په یوه بل مبارک حدیث کښي چي مسلم وغیره له حضرت ابي قتاده رضي الله عته څخه روایت کړیدئ فرمایلي دي چي دعاشورا د ورځي روزه دتیر کال گناوي تویوي ، اوپه روایت کښي دابن ماجه داسي راغلي دي چي د عاشورا دورځي روزه د راتلونکي کال گناوي تویوي.

مطلب دادئ چي ددې ورځي دعظمت اوغتوالئ په سبب الله پاک په خپل فضل او کرم سره وهغه چاته دیوه پوره کال گناوي وربخښي کوم چي په دغه مبارکه ورځ کښي روزه ونیسي .

امام نووي رحمه الله تعالی فرمایلي دي چي ټولو علماوو پردي خبره باندي اتفاق کړیدئ چي اوس دعاشورا دورځي روزه سنت ده .

اوامام ابوحنیفه (رضي الله عنه ) فرمایلي دي چي په ابتداء کښي داسلام دعاشورا دورځي روزه واجب وه .

اوپه نزد دامام شافعي رحمه الله تعالی له ابتداء څخه لا سنت وه په دغه ورځ کښي دجاهلیت په زمانه کښي کفارو دقریشو اویهودانو هم ددغي مبارکي ورځي روزه نیوله (الترغيب والترهيب وحاشيته )

همدارنگه داسلام پیغمبر په یوه بل مبارک حدیث کښي چي امام بیهقي وغیره یې روایت کړیدئ فرمایلي دي:

من اوسع علی عیاله واهله یوم عاشوراء اوسع الله علیه سائرسنته .

یعني هرڅوک چي پراخي جوړه کړي پرعیال اوپر اهل خپل باندي په ورځ کښي دعاشوراء نو پراخي به جوړه کړي الله پاک پرده باندي په ټول کال کښي دده (یعني په ټول راتلونکي کال کښي دده)

Download from: ketabton.com

ابن الحاج په مدخل کښي ذکر کړيدي چي پراخي جوړول په دغه ورځ کښي پرخپل اهل ، قريبانو، يتيمانو اوپرمسکينانو باندي يوداسي کاردئ چي شريعت خلگ ورته رادعوتوي ، خوپه دې شرط چي وتکلف اوومشقت ته دغه کار رسيدونکئ نه وي.

اوسلفو صالحينو به ددغي ورځي تعظيم په دي ډول کاوه چي په دغه ورځ کښي بې ډير عبادت کاوه اودارنگه بې صدقه اوخيرات اوداسي نور دخير کارونه په کثرت سره کول.

له حضرت جابر ، أبوالزبير او شعبة څخه روايت دئ چي موږ دا خبره د تجربې په ډول عملي کړېده چي د عاشورآء په ورځ موږ پر خپل أهل او عيال باندي پراخي جوړه کړېده بيا ټول کال څموږ په رزق او روزي کښي پراخي راغلې ده

همدارنگه د إسلام پيغمبر په يوه بل مبارک حديث کښي چي امام أحمد يې روايت کړئ دئ فرمايلي دي چي د عاشورآء د ورځي روژه نيسۍ ، خو له يهودو څخه مخالفت کوۍ په دې ډول چي يوه ورځ له مخه او يوه ورځ وروسته هم روژه نيسۍ.

Download from: ketabton.com

## د خاندان نبوت او د أهل بيت النبي فضيلت او عظمت.

بسمه تعالی!!!

محترمو وروڼو ! د أصلي مقصد تر پيل له مخه د مقدمې په ډول و يوې خبري ته گوری ،هغه دا چي د أهل بيت په شان کښي چا د إفراط درجه نيولې ده لکه شيعه ، چي د أهل بيت په باره کښي داسي عقيدې لري چي د إسلام له أصولو او فروعو له دواړو څخه مخالفي دي .

او چا بيا د تفريط درجه نيولې ده چي د أهل بيتو په باره کښي د سخت مخالفت او د دُښمنۍ عقيده لري لکه خوارج ،

او ځيني داسي خلگ هم سته چي ځان ته سنيان هم وايي خو د حضرت إمام حسين چي کومه مقابله له يزيده سره وه په هغه کښي يزيد پر حق بولي ، او ځيني لا يزيد تر أبوبکر هم بهتر بولي لکه چي ابن تيمية او صاحب د إعلاَء السنن ددې ذکر کړئ دئ ، دغه ټولي گمراه ډلي دي او د گمراهۍ يې عقيدې او خبري دي .

او کوم خلگ چي په صحيح معنی أهل السنت والجماعت دي په هغوی کښ بيا په عوامو کښي يې ځيني د أهل بيت له عظمت او له فضيلت څخه ناخبره دي ، حتی ما يوه قصه واوريدله چي يوه شيعه و حضرت عمر ته ښکنځل وکړل نو يوه سني بيا په مقابل کښي و حضرت علي ته ښکنځل وکړل.

او ځيني علماَء بيا له دغه څخه غافل دي چي د أهل بيت أصلي څهره او عظمت د مقام و خلگو ته بيان کړي.

زه د أهل بيت په باره کښي و تاسي ته په هغه ډول توضيحات عرضه وم کوم چي په واقعي ډول د أهل بيت له شان سره موافق دي او هم د أهل السنت والجماعت أصلي موقِف دئ .

قدرمنو! مراد ځما له أهل بيتو څخه دلته د خاندان نبوت دغه څلور عظيم الشانه او په الهي دربار کښي عالي رتبه او دلوړو مقاماتو خاوندان دي چي حضرت فاطمة الزهرآء (رضي الله عنها ) او د إسلام څلرم خليفه حضرت علي (کرمَ الله وجهه) او حضرت إمام حسن او حسين (رضي الله عنهما) دي.

ددوی د فضيلت بيان په دوه ډوله و تاسي محترمو ته ذکرکوم:

اول : په إجتماعي ډول .

دوهم : په إنفرادي شکل کښي.

ځکه په إسلام کي د دوی د فضيلت په باره کښي په دغو دواړو شکلو کښي دلائل موجود دي.

Download from: ketabton.com

اول د دوی مبارکانو و فضائیلو ته په مجموعي شکل کښي متوجه سی !

)۱ : ( له حضرت زید بن أرقم څخه روایت دئ چي نبي (صلی الله علیه وسلم ) و حضرت علي ، فاطمې ، حسن او حسین (رضي الله عنهم) ته و فرمایل:

أنا حربٌ لِمَن حارَبتم و سِلْمٌ لِمَن سالَمتم (رواه الحاکم في المستدرک) .

یعني زه جنګ کونکئ او مخالفت کونکئ یم له هغه چا سره چي تاسي له هغه سره جنګ او مخالفت کوی ، اوزه جوړ ، موافق او روغه کونکئ یم له هغه چا سره چي تاسي له هغه سره جوړ او موافق یاست .

)۲ : ( د إسلام پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي:

و أهلُ بیتي أمانٌ لأمتي مِنَ الإختلافِ ، فإذا خالَفتها قبیلَة مِنَ العربِ اختلفوا و صاروا حزبَ إبلیسٍ .

)رواه الحاکم و قال هذا حدیث صحیح الإسناد . (

یعني : او أهلِ بیت ځما أمان دئ أمت ځما لره له إختلاف څخه ، نو هغه وخت چي مخالفت وکړي د أهل بیت ځما یوه قبیله له عربو څخه (یعني لکه خوارجو چي د حضرت علي مخالفت وکړ) نو بیا به دوی سره مختلف سي او د إبلیس ډله به ورڅخه جوړه سي .

)۳ : ( د إسلام پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي :

أحِبوا اللهَ لِما یَغزوکم بِه مِنْ نِعَمِه و أحبوني لِحُبّ اللهِ و أحِب أهلَ بیتي لِحُبي .

)رواه الحاکم وقال هذاحدیث صحیح الإسناد. (

یعني : محبت کوی له الله (جل جلاله) سره له دې وجي چي وتاسي ته په خپلو نعمتو سره غذا درکوي او محبت کوی له ما سره له وجي د محبت د الله (جل جلاله) او محبت کوی له أهلِ بیت ځما سره له وجي د محبت ځما .

)۴ : ( له حضرت أبي سعید الخدري څخه روایت دئ چي ده مبارک ویلي دي چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي :

والذي نفسي بیدِه لا یُبغِضنا أهلَ البیتِ أحدٌ إلا أدخلَه اللهُ النارَ . (رواه الحاکم وقال هذاحدیث صحیح علی شرط مسلم) .

یعني : قسم دئ ځما په هغه ذات چي ځما نفس دده په قدرت کښي دئ بغض به نه وکړي له موږ سره ( یعني ) له أهل بیت سره هیڅوک مګر داخل به کړي دَی الله (جل جلاله) و اور د دوږخ ته .

Download from: ketabton.com

)٥ : ( د إسلام پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي :

كه چيري يو سړئ په منځ كښي د حجر أسود او د مقام إبراهيم ودرېږي او ټول عمر لمونځ كوي او روژه نيسي ، بيا د قيامت په ورځ له الله (جل جلاله) سره مخامخ سي په داسي حال كښي چي ده په دنيا كښي خپل ژوند په داسي حال كښي تير كړئ وي چي له أهل بيت د محمد (صلى الله عليه وسلم) سره بغض كونكئ ؤ نو داخل به سي و اور ته د دوږخ ( إنتهى مع توضيح ، رواه الحاكم وقالَ هذا حديث صحيح على شرط � مسلم � ) .

)٦ : ( له حضرت حذيفه (رض) څخه روايت دئ چي له ما څخه ځما مور پوښتنه وکړه چي رسول ( صلى الله عليه وسلم) ته ورزغلئ يې ؟ ما ورته وويل چي يا يو څه وخت كيږي چي دَى مبارک مي ندئ ليدلئ!

نو ځما مور ماته سرزنښت او زجر راكړ ، ما ورته وويل چي اوس به ورسم او د ماښام لمونځ به ورسره وكړم او ځما او ستا د دواړو دپاره به بخښنه ورڅخه وغواړم ، بيا ما له ده مبارک سره د ماښام او ماخستن لمونځ وكړ ، بيا په ده مبارک پسي د شاله خوا راروان سوم ، ده مبارک وويل چي حذيفه يې ؟

ماورته وويل چي هو ! بيا ده مبارک راته وويل چي دغه څوک چي تا له ما سره وليدئ دا يوه داسي فرشته وه چي تر دغه ساعته پوري هيڅكله و مځكي ته نه وه راكښته سوې ، له الله پاک څخه يې ددې اجازه اخستې وه چي ځما د سلام دپاره راسي او دا زيرئ پر ما باندي وكړي چي فاطمه د جنت د ښځو سرداره ده او حسن او حسين سرداران د ځوانانو د جنت دي ( إنتهى مع إختصار و توضيحٍ ، رواه الترمذي ) .

)٧ : ( همدارنگه له حضرت جابر بن عبدالله څخه روايت دئ چي ده مبارک فرمايلي دي چي په حجة الوداع د عرفې په ورځ ما رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وليدئ په داسي حال كښ چي پر خپله قصوى اوښه باندي سپور ؤ ، خطبه يې ويله ، نو ما له ده مبارک څخه واوريدل (يعني په جريان كښي د خطبې دده) چي داسي يې فرمايل:

يآأيها الناس إني تركتُ فيكم ما إن أخذتم بِه لَن تضِلوا : كتابَ اللهِ وعترتي أهلَ بيتي .

يعني : اې خلگو ! بېشكه ما په تاسي كښي داسي شئ پريښووئ چي كچيري تاسي هغه ټينگ كړی نو هيڅكله به گمرهان نسی تاسي چي هغه : كتاب د الله تعالى (يعني قرآنكريم) او أهل بيت ځما دئ ( يعني كه تاسي په كتاب عمل وكړی او ځما دأهل بيت محبت كوی او د دوی پر لار باندي ځی نو تاسي به له ضلالت او گمرهي څخه محفوظ پاته ياست ) . ( رواه الترمذي ) .

ملاعلي القاري ـ رحمه الله ـ په مرقات كښي ددغه حديث په ارتباط فرمايلي دي چي له دې څخه چي د إسلام پيغمبر تمسک په مطلق أهل بيت خپل سبب د نات له گمراهي څخه بللئ دئ دا معلوميږي چي كوم څوک چي حقيقتًا دده مبارک له أهل بيت څخه وي نو دهغه سيرت او عمل به خامخا مطابق له شريعت او طريقت سره وي

.

Download from: ketabton.com

يعني په أهل بيت کښي داسي څوک نه پيداکيږي چي دده کردار دي له شريعت څخه مخالف وي ، البته سيد جمال الدين و دغه حديث ته داسي قيد ورضم کړئ دئ چي تمسک په أهل بيت په دې شرط سبب د نجات دئ چي دوی پر حق باندي وي ( کذا في حواشي الترمذي ج٢ ).

Download from: ketabton.com

# (فاطمة الزهرآء )

محترمو وروڼو ! په دې برخه کي د بنت الرسول ، سيدة اهلِ نسآء الجنة فاطمة الزهرآء (رضي الله عنها) په اړه تفصيلات درته وړاندي کوم ، خو اول بايد ووايم چي دغه تفصيلات او دارنگه د أهل بيتو د نورو أعضاوو په باره کښي تفصيلات اکثر له � روضة الشهدآء � څخه چي د مولانا حسين واعظ کاشفي تصنيف دئ چي صاحب د تفسير حسيني ، جواهر التفسير ، أخلاق محسني او د أنوار سُهيلي دئ ،او ثقة او مقبول شخصيت دئ خصوصًا د أحنافو په منځ کښي ، او له � مدارج النبوة � للمحدث الدهلوي ، البداية والنهاية ، تاريخ طبري و غيره څخه مأخوذ دي.

محترمو ! د إسلام د پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) له حضرت خديجة الکبری (رضي الله عنها) څخه دوه ځامن او څلور لوڼي پيدا سويدي ، په ځامنو کښي يې يو قاسِم نوميدئ چي د پيغمبر (عليه الصلوة والسلام) په يوه مبارک اسم کنية کښي راغلئ دئ چي � ابوالقاسِم � دئ ، او بل عبدالله نوميدئ چي طيب او طاهر دده مبارک لقبونه وو.

او لوڼي دده مبارک (صلى الله عليه وسلم) کومي چي له حضرت خديجې څخه پيداسويدي دادي :

زينبه ، أم کُلثوم ، رقيه ، فاطمة .

مطابق د ډير مشهور قول حضرت فاطمه (رض) دده مبارک په دغو څلورو لوڼو کښي کم عمره او کشره لور وه.

ځامن مبارکان د رسول (صلى الله عليه وسلم) چي هر څو وو دده مبارک په حيات کښي وفات سويدي .

د حضرت فاطمې د ولادت په نيټه کي ډير اختلاف دئ ، ځينو علماؤ فرمايلي دي چي د أصحابُ الفيل يا د فيل له واقعې څخه ۳۵ کاله تير سوي ول او د إسلام د پيغمبر و نبوت ته ۵ کاله لاپاته وه چي ددې مبارکي تولد وسو.

او شيخ أبو محمد بن خشاب په خپل کتاب � مواليد � کښي له إمام محمد باقر څخه روايت کړئ دئ چي ولادت د فاطمې (رضها) د إسلام د پيغمبر له بعثت او نبوت څخه پنځه کاله وروسته سوئ دئ ، او دغه راز نور قولونه هم سته چي يو دبل سره په دې باره کښي ډير توپير لري .

د فاطمة الزهرآء د زوکړي بيان :

شيخ مفيد په � روضة الواعظين� کښي ذکر کړيدي چي کوم وخت حضرت خديجة (رضي الله عنها) په فاطمة الزهرآء سره حملداره سوه نو د إسلام پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) و حضرت خديجې ته وفرمايل چي:

Download from: ketabton.com

اې خديجې ! حضرت جبرئيل ماته خبر راکړ چې دغه کوچنی (يعني چې اوس د حضرت خديجې په رِحَم کښې دئ) دا به انجلۍ وي ، چې نوم بې فاطمه وي او و دې ته به ډير پاک او پاکيزه اوله برکاتو څخه ډک نسل الله (جل جلاله) وروبخښي ، کله چې ددې مبارکي د زوکړي او د تولد وخت راغئ او خديجې ته لکه څرنګه چې معمول دئ له معمول سره سم دردونه پيدا سول ، نو دې مبارکي و خپلو خپلوانو ښځو ته خبر ورکړ او دوی يې راوغوښتلې ددې دپاره چې د تولد په وخت کښې د عادت مطابق له دې سره کومک وکړي ، خو له دې وجې چې هغه ښځې ټولي کافري او مشرکي وي نو له ورتللو څخه يې منعه وکړه او ودې مبارکي ته يې دا خبري ورولیږلې چې ته ګنهګاره سوې .

يعني د پلار او نيکه لار دي پريښوولو او پر محمد (صلی الله عليه وسلم) باندي دي ايمان راوړئ ، او دغه محمد چې د أبوطالب يتيم ؤ بېچاره ، خوار او غريب ؤ اوته يوه نامداره ، عزتمنه او نامداره ښځه وې دده سره دي نکاح وکړه او ځموږ خبري دي نه منلې او درويشي او فقيري دي پر توانګرۍ او دولتمندۍ باندي غوره کړه ، نو موږ نسو درتللائ خپله چاره دي پخپله وکړه .

حضرت خديجه (رضي الله عنها) د قريشو د ښځو له دغو خبرو څخه ډيره پريشانه او دلتنګه سوه ، په دې وخت کښې په ناڅاپي ډول څلور ښځې ورته راغلې چې په رنګ ، قد او قامت کښې داسي معلوميدلې لکه چې د بني هاشم او د قريشو له ښځو څخه دي ، حضرت خديجې چې کله دغه ښځې وليدلې يودم په ترس او ويره کښې ولويده ، له دغو څلورو ښځو څخه يوې ښځې ودې مبارکي ته وفرمايل چې اې خديجې ! مه پريشاني کوه او مه ويريږه موږ الله (جل جلاله) وتاته راليږلي يو او موږ ستا خويندي يو ، زه حضرت ساره يم (يعني د حضرت إبراهيم[ع] بي بي ) او دغه بله ښځه د عمران لور حضرت مريمه ده (يعني د حضرت عيسی [ع] مور ) او دغه دريمه ښځه بيا کلثوم د حضرت موسی (ع) خور ده ، او دا څلرمه ښځه بيا حضرت بي بي آسيه ده چې د فرعون ښځه وه ، دغه موږ ټولي به په جنت کښې له تاسره ملګري يو .

بيا په دغو ښځو کښې يوه د خديجې و راسته طرف ته او يوه يې چپه طرف ته کښينستله ، او يوه يې و مخ او بله يې شا ته کښينستله ، او د حضرت فاطمې تولد وسو .

کله چې فاطمه (رضي الله عنها) پيداسوه نو له دې مبارکي څخه يوه داسي رڼا او روښنايي وځليدله چې د مکې مکرمې پر ټولو کورو باندي يې احاطه وکړه ، او په ځمکه کښې داسي ځائ پاته نسو چې له هغه نور څخه دي روښانه سوئ نه وي

بيـــــــت:

بر آسمانِ رسالَت هلالِ از نَو تافت

ببوستان نبوت ګلي زنو بـــــشګفت.

Download from: ketabton.com

صاحب د تفسير حسيني په �روضة الشهدآء� کښي ذکر کړيدي چي داسي روايت راغلئ دئ چي الله (جل جلاله) د جنت له حورو څخه لس حوري د جناب رسول کريم ( صلی الله عليه وسلم) وکور ته ورولېږلې ، او له هري يوې سره يوه ګډوه د حوض کوثر له اوبو څخه ډکه او يو تال ورسره ؤ ، کله چي دغه حوري و خديجې ته راغلې نو په هغه څلورو ښځو کښي کومه ښځه چي د خديجې و مخ ته ناسته وه فاطمه يې ورواخستله او په هغو اوبو سره يې پريمنځله او يوه سپينه جامه چي ورسره وه او ډيره خوشبويه وه راواخستله او فاطمة الزهرآء يې په هغه کښي و پيچله او يوه بله پاکيزه او خوشبويه ټوکره يې پر سر ورواچوله ، او بيا يې و خديجې ته وفرمايل چي اې خديجې! اوس دي نو دغه پاکه ، پاکيزه لور درواخله چي الله پاک پر دې او ددې پر نسل باندي برکت ايښئ دئ ، او دغو ټولو ښځو ودې مبارکي ته د فاطمې مبارکي ورکړه ، بيا ورڅخه رُخصت سولې .

وروسته د إسلام پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) راغئ او حضرت خديجة الکبری فاطمة الزهرآء دده مبارک په غيږ کښي ورکړه .

.......................................

پوه سه ! چي د فاطمة الزهرآء (رضي الله عنها) ډير نومونه دي ، شيخ عبدالحق محدث دهلوي (رحمه الله) د مدارج النبوة په ج۲ ص۴۵۹ کښي فرمايلي دي چي ددې مبارکي يو نوم فاطمه دئ او په فاطمه سره ځکه دا مسمی سوېده چي الله تعالی دا مبارکه او ددې مبارکي محبين او مخلصين له دوږخ څخه خلاص کړيدي.

او دوهم نوم يې � بتول � دئ ، په بتول سره له دې وجي نامداره سوېده چي دا مبارکه د خپلي زمانې له ټولو ښځو څخه په فضيلت او دين کښي او په إنقطاع او پريکړون کښي له ماسوی څخه د الله (جل جلاله) تنها او متفرده وه.

او دريم نوم يې � زهرآء� دئ ، په نامه سره له دې وجي نامداره سوېده چي په ښايست او جمال کښي پر نورو ښځو باندي دې مبارکي فوقيت درلودئ.

همدارنګه راضيَة ، مرضِيَة ، ميمونه ، ذکيَة هم ددې مبارکي مبارک نومونه دي ، او اسم کنية ددې مبارکي � أم محمد� ؤ .

محدث دهلوي په مدارج النبوت کښي ذکر کړيدي چي د إسلام پيغمبر فرمايلي دي :

إنّ اللهَ يَغضِبُ بِغضَبِ فاطمة ، و يرضي برَضائها.

يعني بېشکه الله (جل جلاله) په غضب کښي کيږي او ناراضه کيږي په غضب او ناراضي سره د فاطمې ، او راضي کيږي په رضا او خوشحالي سره د فاطمې .

Download from: ketabton.com

همدارنګه محدث دهلوي ذکر کړيدي چي په صحيح حديث کي راغلي دي چي د إسلام پيغمبر فرمايلي دي:

فاطمةُ بِضعَة مني ، مَن آذاها فقد آذاني و من أبغضها فقد أبغضني .

يعني فاطمه يو ټوټه او برخه ده له ما څخه ، هر څوک چي تکليف ورسوي ودې ته نو په تحقيق سره هغه و ماته تکليف ورساوه او هر څوک چي بغض وکړي له دې سره نو په تحقيق سره هغه له ما سره بغض وکړ .

.......................................

پوه سه! چي په دې باره کښي هم إختلاف دئ چي ددې مبارکي نکاح له حضرت علي (کرم الله وجهه) سره څه وخت وسوه؟

اول قول دا دئ چي په دوهم کال د هجرت د رمضان په مياشت کښي د بدر له غزا څخه وروسته ، او ځينو ويلي دي چي د أحد له غزا څخه وروسته ددې مبارکي نکاح له حضرت علي بن ابي طالب سره وسوه ، او د واده مراسم يې د ذي الحجې په مياشت کښي تر سره سول .

دوهم قول دادئ چي د رجب په مياشت کښي يې نکاح ورسره وسوه .

دريم قول دادئ چي د صفري په مياشت کښي په وحي او د الله (جل جلاله) په حکم سره ددې مبارکي نکاح له حضرت علي سره وسوه ، په دغه وخت کښي ددې مبارکي عمر ۱۵ کاله او پنځنيي مياشتي وو ، او د حضرت علي عمر ۲۱ کاله او پنځه مياشتي وو .

له حضرت علي څخه ددې مبارکي دغه اولاد سوئ دئ :

حسن ، حسين ، محسن ، زينبه ، أم کلثوم ، رقيه .

)کذا في مدارج النبوة للمحدث الدهلوي . (

پوه سه ! چي دفاطمة الزهرآء وفات په صحيح قول د رمضان المبارک په دريمه د سه شنبې په شپه سوئ دئ ، په دغه وخت کښي د إسلام د پيغمبر له رِحلَت او وفات څخه ٦مياشتي تيري سوي وي ، او په بقيع کي ددې مبارکي دفن په شپه کښي ترسره سو ، او د جنازې لمونځ يې حضرت علي او په يوه قول يې حضرت عباس (رضي الله عنهما) ادا کړ .

پوه سه ! چي په مَدفَن ددې مبارکي کښي هم إختلاف دئ ،ځيني وايي چي ددې دفن ددې مبارکي په خپل کور کي سوئ دئ کوم چي د مسجد نبوي په داخل کښي راځي ، او يو قول داسي راغلئ دئ چي مَدفن ددې په هغه مسجد کښ دئ چي په بقيع کښي موجود دئ او و دې مبارکي ته منسوب دئ (کذا في مدارج النبوت وغيره ، والعلم عندالله ).

Download from: ketabton.com

Download from: ketabton.com

## د إسلام د څلرم خلیفه حضرت علي ابن أبي طالب ( علیه السلام) مناقب او فضایل

بسمه تعالی !!!

محترمو مسلمانانو ! مطابق د عقیدې د أهل السنت والجماعت حضرت أمیرالمؤمنین علي (رضي الله عنه) څلرم شخص دئ له خلفاؤ راشدینو څخه ، او وروسته له أمیر المؤمنین عثمان بن عفان (رضي الله عنه) څخه څلرم شخص دئ ، چي په أفضلیت کښې پر نورو ټولو صحابه کرامو باندي پرته له حضرت أبوبکر ، عمر ، عثمان (رضي الله عنهم) څخه موقعیت او قرار لري.

فضایل او کمالات دده مبارک أظهر من الشمس دي ، خو په دې وجه چي دَی مبارک د أصحابُ العباء او د أهل بیت النبوة دوهم شخص دئ او دغه مبارکه میاشت د محرم الحرام د أهل بیت د فضائلو له بیانولو سره واضح او ښکاره تناسُب لري غواړم چي دده مبارک فضآئل او مناقب هم په دې سلسله کښې درج کړم .

۱) : ( کله چي د إسلام پیغمبر له ( صلی الله علیه وسلم) حجة الوداع څخه فارغ سو او د مدینې منورې پر طرف باندي سره له اصحاب کرامو راروان سو ، نو کله چي و � غدیر خُم� ته چي له ناحیو څخه د جحفې دئ او په منځ کښې د مکې معظمې او مدینې مطهرې واقع دئ راورسیدئ نو مخ مبارک یې و خپلو مبارکو أصحابو ته راوګرځاوئ او داسي یې ورته وفرمایل :

أ لستم تعلمونَ أني اولی بالمؤمنینَ من أنفسهِم ؟ قالوا بلی . !

یعني اې اصحابو ! ایا نه یاست تاسي چي عالمان یاست تاسي په دې خبره چي زه ډیر نژدې یم و مؤمنانو ته ، یا ډیر دوست یم د مؤمنانو له نفسو او ځانو څخه د دوی ؟ اصحابو ورته وویل چي هو ! (یعني بېشکه ته و مؤمنانو ته د دوی تر ځانو و دوی ته ډیر ورنژدې یې او ددوی ترځانو د دوی ډیر دوست یې ) .

وروسته له دې د إسلام پیغمبر د حضرت علي (رضي الله عنه) لاس ونیوئ او داسي یې وفرمایل:

اللهم مَن کنتُ مولاه فعلي مولاه ، الله والي من والاه و عادي من عاداه ، أنصر مَن نصره و اخذل من خذله ، اللهم ادرالحقَّ معَه حیثُ دارَ ( مدارج النبوة للمحدث الدهلوي ص۴۰۱) .

یعني اې الله ! د هر چا چي زه مولا یم نو علي هم د هغه مولا دئ ، اې الله! دوستي او محبت وکړه له هغه چا سره چي له علي سره دوستي کوي او دښمني وکړه له هغه چا سره چي له علي سره دښمني کوي ، مدت وکړه ( یعني اې الله ! ) د هغه چا چي هغه د علي مدد کوي او ترک د مدد وکړه (یعني نصرت او کومک مه ورسره کوه) له هغه چا

Download from: ketabton.com

سره چي هغه له علي سره مدد او کومک نه کوي ، اې الله ! راګرځوه حق له علي سره هر چیري چي دَی ګرځي (یعني دَی او حق مه سره جلا کوه) .

)٢ : ( د إسلام پیغمبر (صلى الله علیه وسلم) فرمایلي دي:

لا یُحِبُّ علیًا منافقٌ و لا یُبغِضُه مؤمنٌ ( رواه الترمذي ج٢ ص٦٩١) .

یعني : محبت نکوي له علي سره هیڅ منافق او بغض نکوي له ده سره هیڅ مؤمن .

)٣ : ( له حضرت سَعد بن أبي وقاص څخه روایت دئ چي نبي (صلى الله علیه وسلم) و حضرت علي ته وفرمایل :

أنتَ مني بمنزلةِ هارون مِن موسی (ع) ( رواه الترمذي وقالَ هذا حدیث صحیحٌ ) .

یعني اې علي ! ته په نسبت و ماته داسي منزلت او مقام لرې لکه چي څنګه مقام حضرت هارون (ع) په نسبت و موسی (ع) ته درلودئ .

پوه سه ! چي کله چي د إسلام پیغمبر د تبوک و غزا ته تلئ نو حضرت علي یې په مدینه منوره کښي د خپل ځان د خَلَف یا په بل تعبیر د خلیفه په حیث پریښوونځ ، لکه کله چي موسی (ع) و کوه طور ته تلئ نو یې هارون (ع) په بني اسرآئیلو کښي د خپل ځان د خلَف په توګه پریښووئ ، نو حضرت علي (رض) د إسلام و پیغمبر ته عرض وکړ چي اې د خدائ رسوله ! ته ما څنګه د ښځو او کوچنیانو په ډول تر شا پرېږدې او له ځان سره مي نه ملګرئ کوې ؟ نو په دې وجه د خدائ رسول وده ته مذکور حدیث وفرمایه ( أنظر حاشیة الترمذي) .

)۴ : ( له حضرت زرین حُبیش (رض) څخه روایت دئ چي حضرت علي (رضي الله عنه) فرمایلي دي چي ځما دي په هغه ذات قسم وي چي دانه چاودلې ده او واښه یې ورڅخه راایستلي دي او هر خاوند د روح یې پیدا کړئ دئ ، چي ښېشکه شان دادئ چي د إسلام پیغمبر و ماته داسي توصیه کړېده چي محبت به نه کوي له ما سره مګر مؤمن او بغض به نه کوي له ما سره مګر منافق ( رواه مسلم ، کذا في المشکوة ) .

)٥ : ( له حضرت عِمران بن حصین څخه روایت دئ چي نبي (صلى الله علیه وسلم) فرمایلي دي:

إن علیا مني و أنا منه ، وهو ولي کل مؤمنٍ ( رواه الترمذي ، کذافي المشکوة ) .

یعني بېشکه علي له ما څخه دئ او زه له ده څخه یم ، او دَی مددګار او دوست د هر مؤمن دئ .

)٦ : ( له إبن عُمر څخه روایت دئ چي د إسلام پیغمبر و حضرت علي ته وفرمایل :

أنـــتَ أخـــي فـــي الدنیـــا والاخرة ( رواه الترمذي ، کذافي المشکوة ) .

یعني اې علي ته ځما ورور یې هم په دنیا کښي او هم په آخرت کښي .

Download from: ketabton.com

)۷ : ( له حضرت أنس (رضي الله عنه) څخه روايت دئ چي د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په حضور کښي يو مرغه ( يعني چي کباب سوئ ؤ او يو چا ورته هديه کړئ ؤ ) پروت ؤ ، نو ده مبارک داسي دُعا وکړه:

اللهم اتني بأحب خلقک اليک ، يأكلُ معي هذا الطيرَ . (رواه الترمذي ) .

يعني اې الله ! و ماته داسي څوک راوله چي له جملې څخه د ډيرو محبوبو د مخلوق ستا وي و تاته چي دغه مرغه له ماسره وخوري .

نو حضرت علي (رض) راغلئ بيا يې هغه مرغه ورسره وخوړئ .

)۸ : ( له حضرت علي څخه روايت دئ چي رسول الله (صلى الله عليه وسلم) و ماته و فرمايل چي په تا کښي يو نادر صفت د حضرت عيسى (ع) موجود دئ ؛ ځکه چي د عيسى (ع) په باره کښي يهودانو تفريط کړئ وو چي له ده مبارک سره يې بُغض کاوئ او دده پر مور مبارکه يې بُهتان وايه ، او نصاراوو بيا له ده سره په محبت کښي إفراط کړئ دئ چي وده ته يې داسي منزلت او مقام ثابت کړئ دئ چي هغه ده لره نسته .

يعني ځکه نصارى ، ځيني حضرت عيسى (ع) خدائ بولي او ځيني يې د خدائ ځوی بولي او ځيني يې دريم د دريو خدايانو بولي .

بيا حضرت علي (رض) فرمايلي دي چي دوه نفره به ځما په سبب په هلاکت کښي لويږي :

اول : هغه څوک چي ځما په محبت کښي إفراط او تر حدتيرئ کوي او ځما مدحه په هغو شيانو سره کوي چي هغه په ماکښي موجود ندي.

دوهم : هغه سړئ چي له ما سره بغض کوي او د دُښمنۍ په وجه پر ما باندي بُهتان وايي .

)رواه أحمد . (

پوه سه ! چي اول قسم خلگ عبارت دي له روافضو او شيعه گانو څخه چي د حضرت علي په شان کښي او دده په محبت کښي دونه إفراط او تر حد تيرئ کوي لکه څرنگه چي نصاراوو د حضرت عيسى (ع) په شان کښي کړئ دئ .

او دوهم قسم خلگ عبارت دي له خوارجو څخه ، چي له حضرت علي سره د دښمنۍ په وجه يې و ده مبارک ته د کفر نسبت کاوئ ، او داسي تفريط يې دده مبارک په شان کښي کړئ دئ لکه څرنگه چي يهودانو د حضرت عيسى (ع) په شان کښي کړئ وو .

)۹ : ( مولانا حسين واعظ کاشفي (رحمة الله تعالى عليه) په � روضة الشهدآء � کښي فرمايلي دي چي إمام أحمد فرمايلي دي چي د هيڅ صحابي په فضيلت کښي دونه روايتونه و ماته په ثبوت ندي رسيدلي لکه څونه چي د حضرت

Download from: ketabton.com

علي (رضوان الله تعالی علیه) په شان کښې راته ثابت سویدي ، همدارنګه مولانا مذکور ذکر کړیدي چي تولد دده مبارک دننه په خانه کعبه کښې سوئ دئ ، او دغه شرف نه تر ده له مخه نه له ده څخه وروسته چاته حاصل سوئ دئ ، لکه چي یوه عربي شاعر فرمایلي دي :

ولدته في الحرمِ المعظمِ أمه طابت و طابَ ولیدها والمولدُ

بیـــــت :

ګوهر چو پاک بود و صدف نیز پاک بود

آمـــــد میـــانه یي حرمِ کعبه دروجـــود

کعبش زي فیض کعبه صفا داشت لا جرم

بر دوش سید دوجـــهان جلـــوها نمــود

محترمو ورونو ! سلسله د بیان د فضائلو د حضرت علي (رضوان الله تعالی علیه) په تقریر او تحریر کښې و پائ ته نسي رسیدلائ نو کوم څه چي مي ذکر کړل په هغه سره إکتفا کوم ، خو په مختصر ډول و دریو نورو خبرو ته ګورئ :

)١ ( خبر داده چي د نورو صحابه کرامو له نومو سره صرف � رضي الله عنه� ویل کیږي او دده مبارک له نامه سره � کرم الله وجهه � هم ویل کیږي ، ددې دوې وجې دي:

اوله وجه یې داده چي ده مبارک په هیڅ وخت کښې و بوت ته سجده نده کړې.

دوهمه وجه یې داده چي کافرانو به له ده سره د سختي دُښمنۍ په وجه دده په شان کښې داسي ویل � سوَّد الله وجهه� نو مسلمانانو ددوی په رد کښې د حضرت علي له نامه سره دا وینا شروع کړه چي کرم الله وجهه.

محترمو مسلمانانو ! مسلمان ته پکار ده چي په صحیح ډول په إسلام ځان اګاه کړي ، خصوصًا و علماوو ته ، داخبر مي په دې خاطر درته وکړه چي ما له ایران سره په یوه مرکه کښې د حضرت علي له نامه سره د � علیه السلام � جمله په بار بار ویلې وه نو ډیرو ملایانو او طالبانو ته له دې خبرې څخه خورا کرکه پیدا سوېوه ؛ ځکه د دوی په معلومات کښې دا خبره وه چي علیه السلام د حضرت علي له نامه سره ویل د روافضو کار دئ ، ځکه په حقیقت کي دغه جمله د نبي له نامه سره ویله کیږي ، خو محترمو ! اصلي اسلامي صورتحال دغه ډول ندئ په دوی کښې چي ځیني له ما سره مخامخ سویدي نو وروسته له دې چي په دې باب مي له أصلي اسلامي هدایت څخه اګاه کړیدي دا توصیه مي هم ورته کړېده چي و عالم او طالب ته پکار ده چي په صحیح معنی له إسلام څخه ځان باخبره

Download from: ketabton.com

وساتي ، دا يو بل خصوصيت د حضرت علي دئ چي دده له نامه سره � عليه السلام � هم ويل كيدلائ سي ، بلكي دده د اولادې له نومو سره هم عليه السلام ويل كيدلائ سي .

صاحب د تفسير مظهري چي هر ځائ په خپل كتاب كښي د حضرت علي نوم ذكر كوي ـ عليه السلام ـ ورسره وايي .

په تاريخ طبري كښي چي هر چيري د حضرت علي نوم ذكر كيږي د � عليه السلام � جمله ورسره وايي.

شيخ عبدالحق محدث دهلوي په مدارج النبوة كښي د إمام جعفر صادق له نامه سره هم عليه السلام وايی.

صاحب د أصول الشاشي ، د أصول الشاشي په خطبه كښي فرمايلي دي : والسلام على أبي حنيفة و أحبابه.

ځما په فكر و حضرت علي ته دا خصوصيت په دې وجه پيدا سوئ دئ چي رسول (علي الصلوة والسلا) وده ته فرمايلي دي :

أنت مني بمنزلة هارون من موسى إلا أنه لا نبي بعدي ( كذا في المشكوة ) .

)٢ ( خبر داده چي د حضرت علي ( رض) او د معاويه په منځ كښي چي كومي شخړي راغلي دي نو په دې باره كښي د أهل السنت والجماعت ، خصوصًا ځموږ د أحنافو مَوقِف دادئ چي په هغوی ټولو شخړو كښي حضرت علي پر حق ؤ او حضرت معاويه په إجتهاد كښي خطا وتلئ ؤ ، او مقصود د دواړو حق و منځ ته راوستل ؤ ( أنظر شرحَ العقائد ، نبراس ، شرح مقاصد وغيره ) .

)٣ ( خبره داده چي كوم حديثونه چي د حضرت علي په باره كښي راغلي دي چي يوه برخه يې ما درته ذكر كړه په هغوی كښي ځيني داسي حديثونه سته چي شيعه ګان يې پر دې خبره باندي دليل ګرځوي چي د إسلام د پيغمبر څخه وروسته حقدار په خلافت سره حضرت علي ؤ ، خو دا استدلالات د دوی غلط دي او په ترمذي ، مدارج النبوت او په كتابو د عقائدو كښي د دوی جوابونه سويدی .

په حقيقت كښي شيعه ګان ددې خبري مصداق دي چي :

پنج وينې شش نه وينې

يعني دوی و هغو احاديثو ته ګوري چي د حضرت علي په شان كښي راغلي دي او له هغو احاديثو څخه سترګي پټوي چي د نورو درو خلفايي راشدينو په باره كښي راغلي دي ، لكه چي د حضرت أبوبكر په شان كښي يو دا مبارك حديث راغلئ دئ چي بخاري وغيره يې روايت كړئ دئ :

ما طلعت الشمس بعدالنبيين على أفضل من أبي بكر .

Download from: ketabton.com

)والسلام و من الله التوفيق. (

Download from: ketabton.com

## د حضرت امام حسن او امام حسين رضي الله عنهما مناقب ا وفضائل

)١ : ( داسلام پيغمبر په يوه مبارک حديث کښي فرمايلي دي:

ان جبريل يعين الحسين واني احب ان اعين الحسن ( انتهى مختصرًا ) .

اخرجه الحارث بن ابي اسامه عن محمد بن علي کذافي الخصائص الکبرى للسيوطي جلـ٢ـد صفحـ٤٦٥ـه.

يعني بيشکه جبريل وحسين ته کومک ورکوي اوبيشکه زه نو داخوښوم چي وحسن ته کومک ورکړم.

دا مبارکه خبره داسلام پيغمبر هغه وخت وکړه چې حسنينو غيږ سره ايستله اورسول الله صلى الله عليه وسلم دامام حسن پرطرف خبره کوله نوفاطمي رضي الله عنهاورته وويل چي اي دخدائ پاک رسوله ته له حسن سره کومک کوي لکه چي دي ترحسين درباندي ګران دئ.

)٢: ( ابن عساکر له حضرت ابن عُمر څخه روايت کړئ دئ چي ده مبارک فرمايلي دي:

کان على الحسن والحسين تعويذانِ فيهما زغبٌ مِن زَغبِ جناح جبرئيل ( کذا في الخصائص الکبرى في الصفحة المذکورة) .

يعني پر حسن او حسين باندي دوه تعويذونه راځړيدل چي له وړو او ميده بنو څخه د وزر د جبريل (ع) ول .

)٣ : ( له حضرت أبي هريرة (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي :

مَن أحبَّهما فقد أحبني و مَن أبغضهما فقد أبغضني ( رواه الإمام أحمد ، کذا في البداية والنهاية ج٨ص٦٠٢ ) .

يعني هر چا چي مينه او محبت وکړ له حسن او حسين سره ، نو په تحقيق سره هغه له ما سره مينه او محبت وکړ او هر چا چي بغض وکړ له دوی دواړو سره نو په تحقيق سره هغه له ما سره بغض وکړ .

)٤ : ( له حضرت أنس بن مالک څخه روايت دئ چي له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څخه پوښتنه وسوه چي ستا په أهل بيت کښي کوم يو وتاته ډير محبوب دئ ؟ نو ده مبارک په جواب کښي ورته وفرمايل چي حسن او حسين.

)رواه أبو يعلى الموصلي ، کذافي البداية والنهاية في الصفحة المذکورة . (

)٥ : ( له حضرت أبي سعيد څخه روايت دئ چي رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي :

Download from: ketabton.com

الحسن والحسين سيدا شِبابِ أهلِ الجنة إلا ابني الخالة : يحيى و عيسى ( رواه أبوالقاسم البغوي ، كذافي البداية ) .

يعني : حسن او حسين دوه سرداران د ځوانانو د جنت دي ، مگر ماسوی له دوو نفرو چي د خالة ځامن دي چي هغه حضرت يحيی او عيسی ( عليهماالسلام) دي .

محترمو ورونړو ! اوس د حسنينو د هر يوه تنها تنها په مختصر ډول څه فضايل درته ذکر کوم:

اول إمام حسن (رضي الله تعالی عنه) :

حاکم له عبدالله إبن عبيدالله څخه روايت کړئ دئ چي حضرت إمام حسن پنځويشت حجه پياده او د پښو په تگ کړيدي ، سره له دې چي سورلۍ او مرکبونه به هم په زياته اندازه ورسره ول ( کذا نقله السيوطي ) .

إبن سَعد له علي بن زيد څخه روايت کړئ دئ چي إمام حسن دوه کرته خپل ټول جايداد په داسي ډول د خدائ د رضا لپاره صرف کړ چي له ده سره به هيڅ شئ په کور کښي پاته نسو ، او دارنگه يې دري کرته بيا د خپل جائداد نيمئ د خدائ د رضا لپاره صدقه کړ تر داسي حده چي خپله يوه چوټه بې خيرات کړه او بله بې پرينښووله او يوه موزه بې خيرات کړه او بله بې پرينښووله ( ذکره السيوطي ، کذا في النبراس ) .

په � شواهد � کښي ذکر سويدي چي د أهلبيتو له دوولسو إمامانو څخه دوهم امام حضرت إمام حسن (رضي الله عنه ) دئ ، إسم کنية دده مبارک أبو محمد ؤ او لقب يې تقي او سيد وو ، په دريم کال د هجرت درمضان مبارک په نيمايي کي په مدينه منوره کښي دده مبارک تولد وسو .

کله چي د إسلام پيغمبر ( صلی الله عليه وسلم) دده مبارک له زوکړې څخه خبر سو نو يې د فاطمة الزهرآء وکورته تشريف وروړ او له حضرت علي (کرم الله وجهه) څخه يې پوښتنه وکړه چي پر ده باندي مو کوم نوم ايښئ دئ ؟

حضرت علي ورته وفرمايل چي ستا بې مشورې خو موږ دا د ځان حق نه بلئ چي پر ده باندي نوم کښيږدو ، البته ځما په زړه کښي دا خوښه ده چي د � حرب � په نامه سره يې مسمی کړو !

د إسلا پيغمبر ( صلی الله عليه وسلم) ورته وفرمايل چي زه بيا د الله (جل جلاله) بې اذنه نسم کولائ چي پر ده باندي نوم کښيږدم ، په دې وخت کښي حضرت جبريل (ع) راغلئ او د إسلام و پيغمبر ته يې وويل چي:

اې محمده ! الله پاک پر تا باندي سلام وايي او بيا فرمايي چي حضرت علي نسبت و تاته داسي دئ لکه چي حضرت هارون نسبت و موسی (ع) ته ؤ ، نو د هارون (ع) ځوی � شبر � نوميدئ نو ته هم بايد پر دغه مبارک لمسي باندي او د حضرت علي پر دغه عاليقدره ځوی باندي د شبر نوم کښيږدې!

د إسلام پيغمبر ورته وفرمايل چي ځموږ ژبه خو عربي ده او شبر خو د عبري زبان کلمه ده!

Download from: ketabton.com

حضرت جبرئیل ورته وویل چي په عربي کښي د شبر معنی � حسن � ده ، نو په دې سبب یې پر ده مبارک باندي د حسن نوم کښېښووئ .

د إسلام پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) د حضرت إمام حسن په ښي غوږ کښي اذان او په چپ غوږ کښي إقامت وکړ ( البته د نامه تر ایښودلو له مخه ) بیا یې ده مبارک عقیقة په دوو سپینو پسو سره چي لیږ توروالئ یې هم درلودئ ( چي په عربي کښي أملح ورته ویل کیږي ) وکړه ، او د یوه پسه ورون یې ده مبارک و قابلې ته ورکړ او ده د سر مبارک د وریښتانو په وزن یې سپین زر خیرات کړل .

حضرت إمام حسن له سینې څخه بیا تر ککرۍ پوري تر ټولو خلګو د إسلام له پیغمبر سره ډیر مشابه ؤ .

شیخ فرید الدین عطار (قدس سره) په خپل کتاب کښي چي د � ګل وهرموز � په نامه دئ د إمام حسن په شان کښي دا ډول فرمایلي دي ، مثنوي :

إمامي کو امامت را حســــن بود حسن آمد که جمله حسن ظن بود

همه حسن و همه خلق و همه حلم همه لطف و همه جودو همه علم

شب از زلف سیاهـــش تیره مـانده ز رویش مـاه روشن خیره مانده

لبش قـــائم مقام حـــوض کـــوثر که بودي چـــشمه نـــوش پیـمبر

چـــنان نوشي بزهر الـود کـردنـد دلش خـون و جگر پالوده کردند

ز زهرش چون جگر شد پاره پاره ز غصه گشت خونین سنگ خاره.

همدارنګه یو بل بزرګ د حسنینو په بار کښي داسي فرمایلي دي ، مثنوي :

هست بر أهل معرفت روشن صفت حضرن حســین و حسن

آن یـــکي اختریست ـتـابنده وان دیگر گـوهریست رخشنده

آن یکي نور دیـــدهء نبوي و ان یکي شمع جان مرتضوي

روي آن صاف تر زلمعهء بدر گیــسوي این نمونهء شب قـدر

آن یکي ماه آسـمان کمال وان دگر سرو بوســـتان جمال.

)کذا في روضة الشهدآء للکاشفي . (

صاحب د نبراس د نبراس په ص٥١٦ کښي فرمایلي دي :

Download from: ketabton.com

و مِن أعظمِ مناقبه تسليم الخلافة حفظًا للدمآء مع ما كان معه من عساكر كالجبال .

يعني بعضي له ډيرو غټو مناقبو د إمام حسن دادئ چي ده و حضرت معاويه ته په دې وجه خلافت تسليم کړ چي د مسلمانانو وينه تويه نسي ، سره له دې چي د غرو په ډول فوج او لښکر ورسره وو .

په � صواعق � کښې ذکر سويدي چي دده مبارک ښځې په امر د يزيد بن معاويه وده مبارک ته زهر ورکړل ، يعني چي د هغو زهرو په وجه دَی مبارک په شهادت ورسيدئ.

Download from: ketabton.com

## د سبط رسول سیدشباب أهل الجنة ، شهید کربلا حضرت إمام حسین د مناقبو پاته او ځانګړې برخه

بسمه تعالی !!!

محترمو ورونړو ! په دې برخه کښې د حضرت إمام حسین (رضي الله عنه) په اړه ځینې ځانګړې مطالب و تاسي محترمو ته ذکر کوم ، او په راتلونکیو برخو کښې به ان شآءالله دده پاڅون په مقابل کښې د یزید ، دده مبارک د پاڅون شرعي حکم او له ده سره چي کوم څوک ملګري ول دهغوی او دده د شهادت ذکر ، د یزید قبائح او پرده باندې د لعنت ویلو د جواز او د نه جواز په اړه اساسي او موثق معلوماتونه درکړه سي.

اوس ددې برخې په مطالبو پیل کوم :

قدرمنو ! په شواهد النبوة کښې راغلي دي چي حضرت امام حسین د أهل بیت له امامانو څخه دریم إمام دئ او ابوالأئمة هم ورته ویل کیږي ، اسم کنیة دده مبارک أبو عبدالله ؤاو ذکي ، شهید ، سبط او شهید دده مبارک لقبونه وو .

د هجرت په څلرم کال د شعبان په ۴ یا په ۵ د سي شنبې په ورځ په مدینه منوره کښې دده مبارک تَوَلد وسو ، علماوو ذکر کړیدي چي موده د حمل دده مبارک شپږ میاشتي وه ، او هیڅ کوچنئ د شپږو میاشتو ندئ له مور څخه پیداسوئ چي بیا دي ژوندئ پاته سوئ وي ماسوا له دوو نفرو : اول یحیی بن زکریا علیهماالسلام) دوهم حضرت امام حسین (رضي الله عنه) ، او د حضرت امام حسن د ولادت ، او د فاطمې د علوق او حمل کیدلو په امام حسین سره پنځوس ورځې مفاصله په منځ کښې راغلې ده ، نو حضرت امام حسین اوه میاشتي او شل ورځې له امام حسن څخه کشر ؤ .

کله چي د امام حسین تولد وسو ، چي یوه بزرګ ددې تولد خوشحالي په دې شکل تعبیر کړېده ، قطعه :

طلوع کرد بتائید حق ز بـــرج کــــمال مه خجسته روخ و اختري مبـــارک فال

ازین نهال شرف تازه گشت گلشن دین چنانکه تازه شود برگ گل زباد شمال.

د اسلام پر پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) باندې دده مبارک د تولد زیرئ وسو ، حضرت رسول أکرم في الحاله د فاطمة الزهرآء و کورته تشریف یووړئ ، حضرت أسمآء بنت عمیس چي د حضرت حسین دایه توب یې کاوئ په داسي حال کښې چي حضرت حسین یې په یوه خرقه کښې پیچلئ ؤ دده مبارک په غیږ کښې کښیښووئ .

Download from: ketabton.com

د إسلام پیغمبر دده مبارک په ښي غوږ کي اذان او په چپ غوږ کي اقامت وکړ ، بیا یې و حضرت علي ته وفرمایل چي کوم نوم دي پر دە باندي ایښئ دئ ؟ حضرت علي ورته وویل چي ما نه غوښتل چي ستا له صوابدید څخه پرته پر دە باندي نوم کښېږدم ، د إسلام پیغمبر وفرمایل چي زه نو بیا د الله (جل جلاله) و حکم ته ګورم.

په دې حال کي حضرت جبریل (ع) رالئ او وې ویل چي د حضرت هارون (ع) دوهم ځوی شبیر نومیدئ او د شبیر معنی په عربي حسین دئ ، نو یې په دې وجه پر ده باندي د � حسین � نوم کښېښودئ .

دده مبارک د تولد په اومه ورځ یې د عقیقې په نیت دوه پسونه حلال کړل او دده مبارک سر یې ورورخریئ او د هغو وریښتانو په تاله یې سپین زر خیرات کړل ( کذا في روضة الشهدآء ص ۱۸۲ للإمام الکاشفي )

همدارنګه په یوبل روایت کښي راغلي دي چي کله چي امام حسین رضي الله عنه پیداسو نو الله جل جلاله وحضرت جبرائیل علیه السلا ته وفرمایل چي ولاړسه زماوحبیب ته زماله طرفه دده دلمسي مبارکي ورسوه اووروسته له هغه یې په دې هم خبرکړه چي دغه حسین به یووخت ستادځینوامتیانوله لاسه په قتل رسیږي اوددي تعزیت اوفاتحه خواني هم زماله طرفه وررسوه

حضرت جبرائیل علیه السلام چي دغه الهي پیغام دخدائ ورسول ته راورساوه اوداسلام پیغامبر اوحضرت علي اوفاطمه له دې خبري څخه اګاه سول اوداسلام پیغامبر وحضرت فاطمي ته وفرمایل چي داواقعه به هغه وخت وي چي نه به ته یې اونه به زه یم اونه به حسن وي حضرت فاطمي دچغواوبغاروپه حال کښي داسي وفرمایل چي �کاشکي زه هغه وخت ژوندي وای ترڅوچي دحسین دمصیبت مراسم مي پرځای کړي وای�په دې وخت کښي یوهاتفي اواز راغلي چي اې فاطمي ته غم مه کوه دقیامت تروڅې پوري به (یعني په چوکاټ کښي دشریعت هرکال مسلمانان دحسین دمصیبت مراسم ترسره کوي بیت---

زین مصیبت داغهابرسینهء سوزان ماست زین غزاسدشعلهء غم بردل بریان ماست.

کذاذکره مولانا حسین الکاشفي صاحب تفسیرحسیني

توجه...

محترمومسلمانانودامام حسین اودکربلا دشهیدانو دمصیبت مراسم په هغه ډول ترسره کول لکه چي یې شیعه ګان ترسره کوي داداهل السنت والجماعت په مسلک کښي خصوصاً داحنافو په مذهب کښي ناروا اوله اسلام څخه وتلي کاردي ،البته دعاشوراء په ورځ دامام حسین اودکربلا دشهیدانو حالات بیانول یا په هغوئ کښي تأمل اوفکرکول اوپه نتیجه کښي ددې په زړه کښي دلسوزي اودردپیداکیدل اوترسترګو په غیري اختیاري ډول اوښکي راتوییدل اوددوي په حق کښي دعاګاني اوخیراتونه کول داسلام له اصولواوله فروعوسره موافق اوصالح عمل دئ کوم څوک چي دغه کارهم بدعت سیئه یاناروا بولي نوداډېرنامرداوبې لاري انسان کاردئ.

Download from: ketabton.com

شيخ مفيد ذکرکړيدي چي هغه وخت چي جبرائيل عليه السلام دحسين دمبارکي لپاره وحضورعليه السلام ته راتلی نوپريوه فرشته باندي راغلي چي پرمځکه باندي غورځيدلي وه دغه فرشته قطرس نوميدله چي په دريم اسمان کښي داويا زره فرشتومشره وه، حضرت جبرئيل ورته وويل چي قطروسه ولي ژاړي اوداڅه کيفيت درپيښ سويدئ قطرس ورته وويل چي دالله جل جلاله په يوه حکم کښي ادناقدر سستي راڅخه وسوه او په نتيجه کښي مي وزرونه وسوځيدل

اي جبرائيله :ماداسلام وپيغمبر ته درسره بوځه ښايي چي دده په برکت دغه مشکل ځما حل سي نوحضرت جبرائيل دغه فرشته داسلام وپيغمبرته حاضره کړه داسلام پيغمبر چي ددي له حال څخه خبرسو نوبي ورته وفرمايل چي ورسره اوخپل ځان په حسين ومښه قطرس چي دغه کاروکړ نوفي الحاله يې بيرته وزرونه پيداکړل اوودريم اسمان ته يې پروازوکړ اووخپلي عبادت خاني ته ورسيدله، بيا چي کله دامام حسين رضي الله عنه ل شهادت څخه خبره سوله نويې په افسوس سره وويل چي کاشکي زه له دي واقعي څخه مخکي خبره سوي وای چي له نوروټولو خپلو فرشتوسره مي دده دکومک دپاره وځمکي ته ځان رسولای وای..

انظرروضة الشهداء ،لصاحب تفسيرحسيني . والسلام.........

بسمه تعالئ....

محترموپه دي برخه کښي په دي باب بيان درته کوم چي دحضرت امام حسين اودده داهل بيت اوملگريو له هغو مصائبو څخه چي په کربلاکښي دوی ورسره مخامخ سول ، اودارنگه دحضرت امام حسين له شهادت څخه داسلام پيغمبراو فاطمة الزهرااوعلي کرم الله وجهه له پخوالا دالله جل جلاله له طرفه اگاه اوخبردار گرځيدلي وو ، لکه چي په تيره برخه کښی دروضة الشهداء په حواله يوروايت ما درته ذکرکړ خواوس غواړم چي په دي باب پوره وضاحت درته وکړم نوورته متوجه سي.

اول : له ثابت بن انس څخه روايت دئ چي فرشتي او ملکي دباران له الله پاک څخه ونبي عليه السلام ته دورتللو اجازه وغوښتله نوالله پاک اجازه ورکړه يعني نودغه فرشته ونبي عليه السلام ته راغله ، بيانبي عليه السلام و ام سلمي رضي الله عنها ته حکم وکړ چي ودروازي ته گوره اوڅوک مه راپريږده ، بيا حضرت حسين راغلي يعني هغه وخت چي دی کوچني وو اودنبي عليه السلام ومبارکووږو ته ورغورځيدي نودغي فرشتي و رسول عليه السلام ته عرض وکړ چي ايا ! ته حسين خوښوي ده مبارک ورته وفرمايل چي هو: نودغي دباران فرشتي ورته وويل چي بيشکه ستادامت له لاسه به دي قتل کړسي بيا يې له کربلا څخه يوقسم سره خاوره هم راواخستله اونبي عليه السلام ته يې ورښکاره کړه بياحضرت

ام سلمي دغه خاوره دخپلي جامي په يو طرف کښي واچوله

Download from: ketabton.com

انتهى مع ادنى اختصار . رواه احمد كذا في البدايه والنهايه ج ٨ص ٥٩٦

دوهم : له حضرت انس بن حارث څخه روايت دئ چي ما به له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدل چي ده مبارك به فرمايل (ان ابني [يعني الحسين] يقتل بارض يقال لها كربلاء فمن شهد منكم ذالک فلينصره) رواه ابوالقاسم البغوي

كذافي البدايه والنهايه.

يعني بيشكه ځما ځوی حسين به قتل كړكيږي په داسي ځمكه كښي چي كربلا ورته ويل كيږي نوڅوک كه له تاسي څخه په هغه وخت كښي حاضروو نومدَت دي وكړي يعني دحسين .

دريم :له حضرت علي ابن ابي طالب څخه روايت دئ چي دي مبارک كله چي صفين ته تلي نوپركربلاء باندي راغلي بيا يې پوښتنه وكړه چي ددغه ځای نوم څه دئ خلگوورته وويل چي ددي ځای نوم كربلاء دئ ، نوده مبارک وفرمايل چي (كرب وبلاء)يعني دادغم اوبلاء ځای دئ بيا يې هلته له يوي درختي سره لمونځ وكړ بيايې وفرمايل چي دلته به داسي شهيدان وژل كيږي چي پرته له صحابووڅخه به ترنوروټولو شهيدانو بهتره وي چي وجنت ته به بي حسابه داخليږي ، او په دغه ځمكه كښي يی ويوځای ته اشاره وكړه بياخلگو هغه ځای نښاني كړ چي وروسته په هغه ځای كښي حضرت امام حسين شهيد كړسو.

راوه ابن سعد كذا في البداية والنهاية لابن كثير.

ابوالجناب كلبي حكايت كړيدئ چي دكربلاء خلگ هميشه دپيرانا نو ژړاوي پرامام حسين باندي اوري.

كذا في البداية والنهاية لابن كثير.

ابن عساكر روايت كړيدئ چي يوي ډلي دغازيانو دروم په ځيني ښارو كښي په يوه كنيسه اوعبادتگاه كښي دنصارى وو دغه بيت ليكل سوي وليدي.

اترجوامة قتلت حسينا شفاعة جدهِ يوم الحساب.

نودوی له روميانو څخه پوښتنه وكړه چي دغه بيت چا ليكلي دئ نوروميانو ورته وويل چي ستاسو دنبي تربعثت دري سوه ٣٠٠ كاله له مخه دغه بيت ليكل سويدئ.

كذا في البداية والنهاية ج ٨.

دارنگه داسي روايت هم راغلي دئ چي هغو خلگو چي امام حسين يې شهيد كړ په داسي حال كښى چي دشرابو په چښلو مشغول ول اودحضرت امام حسين سرمبارک يې هم رااخستي وو ،په غيبي ډول داوسپني يو قلم ورته ښكاره سو اوپريوه ديوال باندي يې ذكرسوی بيت ورته وليكی.

Download from: ketabton.com

كذا في البداية والنهاية ج ٨ ص ٥٩٧

څلورم : له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي ما په خوب کښي

رسو ل لله صلی الله عليه وسلم دغرمي په تيم کښي وليدي په داسي حال کښي چي دسر ويښتان يې په ګرد اوغبار سپيره وو اويوه شيشه ورسره وه چي په هغه کښي وينه وه نوماورته وويل چي زما مور اوپلاردي ترتاقربان سي اي دخدائ رسوله ! داڅه وينه ده چي په شيشه کښي دي اچولي ده نوده مبارک راته وويل چي دادحسين اودده دملګريو و ينه ده چي ترنن وځي پوري مي راټولوله ،

حضرت عمار فرمايلي دي چي موږ چي معلو مات وکړ نوپه هم هغه ورځ حضرت امام حسين په شهادت رسيدلي وو.

رواه احمد وتفرد به واسناده قوي.

پنځم : له حضرت علي بن زيد بن جدعان څخه روايت دي چي حضرت بن عباس له خوب څخه راويښ سو نو(انا لله وانا اليه راجعون )يې ووايو اووي ويل چي قسم په خدائ دئ چي حسين شهيد کړسوي د ئ ، نودده ملګروورته وويل چي له څه وجهي دي دا وويل ، نوده مبارک ورته وفرمايل چي مارسو ل الله صلی الله عليه وسلم په خوب وليدئ چي له وينو څخه ډکه ښيښه ورسره وه اووماته يې وويل چي ايا! ته عالم سوي يې پردي باندي چي له ما څخه وروسته ځما امت څه کړيدئ حسين يې قتل کړ اودادده دملګريو وينه ده چي والله جل جلاله ته يې عرضه وم ، بيا چي دوی معلومات وکړ په هغه تيم امام حسين شهيد سوئ وو

رواه ابن ابي الدنيا کذافي البداية والنهاية.

شپږم : له حضرت ابن عباس څخه روايت دئ چي الله پاک وحضرت محمد صلی الله عليه وسلم ته وحي وکړه چي ما دحضرت يحي بن ذکريا په سبب چي کله دي ګمراهانو شهيد کړ اويا زره انسانان په قتل ورسول ،اودحسين په سبب به دوه واره اويا زره انسانان په قتل رسوم.

رواه الخطيب کذا في البداية والنهاية.

له حضرت ام سلمي څخه روايت دئ چي دي مبارکي فرمايلي دي چي ما له پيرانانوڅخه واوريدل چي پرامام حسين باندي يې ژړل اوپرده مبارک باندي يې نَوحه کوله او هم دارنګه له جنيانو څخه دغه بيتونه ما و اوريدل چي دوی ويل.

ايها القاتلون جـــهلا حســـــينا ابــشروبالـعذاب والتنکيل

کل اهل السماء يدعوعليـــــکم ونبـــي ومرسل وقبيـــــــــــــل

Download from: ketabton.com

قدلعنتم على لساني ابن داود وموسى وصـــاحب الانجيل

كذافي البداية والنهاية لابن الكثير.

مولانا حسين واعظ كاشفي په روضة الشهداء كښي ذكركړيدي چي پنځه واره دخدائ جل جلاله له لوري ورسول عليه السلام ته دامام حسين له شهادت څخه خبروركړه سويده.

والسلام ومن الله التوفيق

Download from: ketabton.com

محترمووروڼو!په دي برخه کښي په دي باره کښي شرعي معلومات درکوم چي دامام حسين اودعبد الله ابن زبيررضي الله عنهما قيامه په مقابل کښي ديزيد اوددوی دواړو مخالفت له يزيد سره ترداسي حده پوري چي اخرپای يې هغه سي سوچي هرچاته معلوم دئ اوپه بله برخه کښي به يې انشاء الله تفصيل هم راسي شرعي حکم څه ؤ په دي ارتباط وتفصيل ته ځير سي.

صاحب د نبراس په نبراس کښي چي دشرح عقائد ډيره معتبره شرحه ده په پنځه سوه څلويښتمه صفحه کښي داسي فرمايلي دي (وههنا بحث من الاشکالات القوية وهوان الحسين بن علي رضي الله عنهما خرج على يزيد مع ان معاوية رضي الله عنه نصبه وبايَعه الصحابة )

ترجمه : له قوي سوالو څخه دلته يو سوال دادئ چي حضرت معاوية يزيد دخلافت لپاره وټاکی

اوصحابه وو بيعت ورسره وکړ، سره له دي امام حسين پرده باندي خروج وکړ، اودده په مقابل کښي ودريدئ ،بيا صاحب د نبراس دعلماوو له طرفه ددي مختلف جوابونه ذکرکړيدي چي په هغوی کښي يې ځيني ضعيف هم بللي دي.

اول جواب په دي ډول دئ.

)واجيب بان وجوب طاعة هذالشقي علي بضعة النبي صلي الله عليه وسلم غير معقول(

اودوهم جواب يې په دي ډول ذکرکړيدئ چي دامام حسين رضي الله تعالی عنه اجتهاد دافيصله وکړه چي ديزيد خلافت صحيح نه دئ ځکه چي امام حسن رضي الله عنه چي کله ومعاويه ته خلافت ورتسليموئ نوپر حضرت معاويه باندي يې داشرط کښيښودئ چي دي به دمرگ په وخت کښي وخپل اولاد ته خلافت نه سپاري بلکي واهل شورى ته به يې پريږدي ،پاته سوه داخبره چي ځيني صحابه وو لکه عبد الله بن عمر له مخالفت څخه ديزيد خلگ منعه کول نودا ددوی اجتهاد ؤ اوامام حسين په خپله ځان ته مجتهد ؤ اوديوه مجتهد حکم پربل مجتهد باندي نه لازميږي.

دريم جواب يې په دي ډول ورکړيدئ چي حضرت امام حسين ديزيد وطرفدارانوته وويل چي ماويزيد ته ورولئ چي زه بيعت ورسره وکړم نوديزيد طرفدارانو له د ي څخه منعه وکړه اوود ته يې وويل چي ته بله چاره نلري بي له دي چي قتل سي.

څلورم جواب يې په دي ډول ورکړيدئ چي ښايي چي امام حسين ته دي ديزيدکفر په ثبوت رسيدلي وي اوپرامام دمسلمانانو باندي خوخروج ترهغه پوري ممنوع دئ چي له ده څخه کفرنه وي صادرسوي، اوله يزيد څخه داسي شعرونه هم رانقل سويدي چي دده پرکفرباندي دلالت کوي چي له جملي دهغوی څخه يوشعردادئ چي دشرابو په باره کښي يې ويلئ دئ چي.

Download from: ketabton.com

فان حرمت يوماً على دينِ اَحمدِ فخذها على دين مسيح ابن مريمِ.

اودارنگه په هغه ورځ چي دحضرت امام حسين سرمبارک يې وده مردودته راوړئ ،نوده يوښوشعرونه وويل چي ده هغوی له جملي يوبيت په دي ډول ؤ.

لَست من حذف ان لم اَنتقم من بَنِي احمد ماكان فعَل.

مولانابحرالعلوم په شرحه دمسلم الثبوت کښي ذکرکړيدي (ان يزيد كان من اَخبَثِ الناس وكان بعيد بمراحلَ من الامامةِ بل شُک في ايمانهِ ِ ِ خَذَله الله.

پنځم جواب يې په دي ډول ورکړيدئ چي يزيد چي خليفه کيدئ لا فاسق ؤ نوپه دي وجه دده دخلافت انعقاد صحت نه درلودئ يعني لکه چي دجمهورو علماووداقول دئ ماسوی له احنافو.

صاحب داعلاء السنن داعلاءالسنن په دوولسم جلد شپږسوه اواتلسمه صفحه کښي په دي اړه داسي ذکرکړيدي (وحجة الجمهور ان قيامهم ليس بمجرَدِ الفسق بل لما غير من الشرعِ وظاهر من الكفر.

يعني دجمهورو علماوودليل دادئ چي دامام حسين اودابن زبير اودمديني دخلگودريدل په مقابل کښي دبني اميه اوديزيد اودارنگه دتابعينو ديولوی جماعت اودصدراول خروج پرحجاج بن يوسف باندي خالي ددوی دفسق په وجه نه وو بلکي په دي وجه ؤچي دغو ظالمانوپه شرعي احکامو کښي تغير کړئ ؤ اوکفرورڅخه ښکاره سوئ ؤ.

اوهمدارنگه صاحب داعلاء السنن په مذکوره صفحه کښي ذکرکړيدي.

الائمة الذين خرجو على يزيد والحجاج لعلهم ظنوا من انفسهم القدرة على خلعهما لكثرة من بايعهم على ذالک فقدبايع على يد مسلم بن عقيل للامام حسين بن علي عددكثير من اهل كوفه تزيد عدتهم على اربعين الفا. وقدورد في الحديث

�لن يغلب اثنا عشر الفا من قلة اذااِجتمعت كلمتهم� وسئل مالک افيسعنا التخلف عن مجاهدة من بدل الاحكام؟ فقال: انكان معک اثناعشر الفا مثلک لم يسعک التخلف، والا فأنت في سعة منه كما قدمناه في باب الفرار من الزحف،، فلم يكن خروجهم خلاف الأجماع ولاخلاف السنة، ولكن أوتوا من قِبل اصحابهم ، فلم يكونوا كما ظنو ااولا مأملوا لم تكن كلمتهم مجتمعة ولاهمتهم متحدة ، ولم يكونواصادقين فيما أظهروا من الحب لأهل البيت والعزم على الجهاد في الله واقامة دعائم الاسلام كما لايخفي على من مارس التاريخ ووقف على سيرة الشيعة من اهل الكوفة وغيرهم، فالمكرشعارهم والغدر دثارهم والله الموفق .

هم دارنگه صاحب داعلاء السنن په شپږسوه يوويشتمه صفحه کښي ليکلي دي( لاينبغي لمسلم ان يحط على من خرج من السلف الصالح من العترة وغيرهم على ائمة الجور فانهم فعلو ذالک باجتهاد منهم وهم اتقى لِله واطوع

Download from: ketabton.com

لسنة رسول الله من جماعة ممن جاء بعدهم من اهل العلم ولقد افرطَ بعض اهل العلم كالكراميه ومن وافقهم حتى حكموا بان الحسين السبط رضي الله عنه وارضاه باغ على يزيد بن معاوية فياالله العجب من مقالاتٍ تقشعِر منهاالجلود ويتصدع من سماعها كل جلمود . هكذافي نيل الاوطار عن الفتح ٨۴/٧

خلاصه دمطلب داده چي خروج دامام حسين پريزيد باندي برحق ؤ او يزيد پرباطل باندي ؤ ، لكه چي ديزيد په بيان كښي اودده دقبائحو په تفصيل كښي به انشاء الله نورهم ددي خبري وضاحت درته وكړ سي . والسلام و من الله ا لتوفيق

Download from: ketabton.com

## د حضرت امام حسين (رضي الله تعالى عنه) د شهادت بيان

محترمو مسلمانانو ! د كربلا دشهيدانو ، خصوصًا د حضرت امام حسين ( رضي الله عنهم ) د شهادت بيان چي په هر مسلمان كښي زړه ټوټه ټوټه كوي او هر عاقل انسان مدهوش ګرځوي او په عقل حيرانونكي حيرانتياكي يې اچوي ، په مفصل ډول و ډير زيات وخت ته ضرورت لري ، او انشاءالله كه له ما سره الهي توفيق په وروسته كښي ملګيري وكړه نو ددې حالاتو او واقعاتو بيان به له � من � څخه تر � الى � ، ټكي په ټكي وكړم ، او دارنګه به د يزيديانو بې شرمه اقدامات او د يزيديانو ټول متمردين به نام په نام سره ددوی له خبآئثو بيان كړم .

خو په دې سلسله كښي چي اوس موږ راروانه كړېده د الأهم فالأهم ذكر او بيان په مختصر ډول درته كوم .

محترمو ! د حضرت امام حسين ( رضي الله عنه) او دده د خاندان او دده د ملګرو چي كله له يزيد سره مقابله شروع سوه او جنګ پيل سو نو په جريان كښ د جنګ اخير حال ودغي اندازې ته راورسيدئ چي د حضرت علي �اصغر� په شمول ۷۲ نفره د حضرت امام حسين (رض) له خاندان او ملګرو څخه په شهادت ورسيدل ، او يوازي حضرت امام حسين ، امام زين العابدين او دده مبارك د أهل بيت ښځي پاته سولې .

حضرت امام حسين په دغه حالت كښي له خپله مباركه زړه څخه ( چي له سوز او درده څخه ډک ؤ) يوه � آه � تر خوله راوايستله او ددې توان په ده مبارک كښي ختم سو چي له ژړا څخه خپل ځان په قابو كښي راولي ، لكه چي يوه شاعر ددغه حالت انعكاس په دغو بيتو كښي كړئ دئ :

اي دريغـــا ! ديدهء انصاف گر بينـــا بودي سبط پيغمبر (ص) چرا در كربلا تنها بودي

بـــر غـــريبيي حســــين درد او بـگريستي حضرت ختم النبيين گر دران صحرا بودي

كئ توانستي كشيدن تيغ در رويش كسي گر علي مرتضى با ذوالفقـــار آن جا بودي

فاطمه از حسرت و اندوه آن لـــب تشـــنگان جامه بر تن چاک كردي گر دران غوغا بودي

گر حسن بودي دران صحراي پر كَرب و بلا از غم و سوزي برادر واله و شــــيدا بودي.

راويانو ذكر كړيدي چي حضرت امام زين العابدين چي كله د خپل كور مېنه له جنګياليو څخه خالي وليدله او يوازي له خپل ځان او له حضرت امام حسين څخه يې بل څوک په نظر كي ورنغئ ، نو سره له دې چي دَی مبارک ډير بيمار هم ؤ له خيمې څخه دباندي راووتئ او له ناجوړی څخه يې ټول مبارک بدن ريږديدئ او د يزيديانو � مردودينو� پر طرف د جنګ و ميدان ته روان سو ، دده مبارک پلار حضرت امام حسين چي كله پر ده باندي سترګي ولګيدلې

Download from: ketabton.com

چي د جنگ و میدان ته روان دئ ، نو په ډېر تلوار د شا له خوا پسي ورغلئ او ږغ یې پر وکړ چي ا ې بچیه ! بیرته راوگرځه ؛ ځکه چي دا یو ته راپاته یې او ستا په سبب به ځما نسل باقي پاته کیږي او ته به د أهل بیت د ټولو امامانو پلار یې او تا زه د خپل ځان وصي گرځوم او دغه ښځې ټولي به ستا په سایه کښي ساتلي کیږي ، او هغه مخفي علمونه چي تنها او یوازي د أهل بیتو الله (جل جلاله) نصیب کړیدي هغه به هم وتاته په میراث پاتیږي .

وروسته یې حضرت امام زین العابدین بیرته و خیمې ته راوستئ او په تقوی او په طلب د رضا د الله تعالی سره یې وده ته وصیت وکړ ، او وروسته یې و خپلي مبارکي بي بي � شاربانو� ته وفرمایل چي زما د جنگ اسلحه راکړه ؛ ځکه چي د ټولو ملگریو نوبت تیر سو او په شهادت ورسیدل او اوس د یزیدیانو مقابله تنها و ماته راپاته سوه ، یو شاعر په دې ارتباط داسي فرمایلي دي :

اینک آمد نوبت من الوداع الوداع اې عترتِ من ! الوداع

دمبدم خواهید چون ابر بهار گریه کرد از حسرتِ من الوداع

زود دلهایي شما خواهد شدن سوز ناک از فرقت ِ من الوداع

وروسته حضرت امام حسین خپله مصري مبارکه چوپانه واغوستله او د سرورِ کائنات حضرت محمد ( صلوات الله تعالی علیه ) مبارکه لنگوټه یې پر سر کړه ، او د حضرت سیدالشهدآء حمزه (رضي الله عنه) سِپر او د حضرت علي ( کرم الله وجهه) ذوالفقار یې ورسره واخستئ ، او پر خپل آس باندي ( چي ذوالجنان ورته ویل کیدئ ) سپور سو او د جنگ د میدان قصد یې وکړ .

کله چي دَی مبارک روان سو ، نو د أهلِ بیت ټولي ښځې د شا له خوا پسي رواني سوې او د چغو او بغارو په حالت کښي یې وده مبارک ته وویل چي اې حسینه ! موږ و چاته پرېږدې او و چاته مو سپارې ؟

حضرت امام حسین ورته وفرمایل چي بیرته وگرځۍ ! تاسي پر الله ( جل مجده) باندي سپارم او الله ( عز وجل) ځما او ستاسي په ټولو مهماتو کښي وکیل او کارساز دئ ، و کفی بالله وکیلاً .

کله چي امام حسین د جنگ و میدان ته وررسیدئ نو و یزیدیانو � مردودانو� تې اول وار په خطاب کښي یو څو عربي شعرونه وویل ، چي په فارسي ژبه کښي یې یوه شاعر په فارسي شعرو سره په دې ډول ترجمه کړېده :

جد مَن خیرالورى فاضل ترینِ انبیاَء است آفتاب ، اوج عزت شمع جمعِ اصفیاَء است

منقبتهایي پدر گر برشمارم دور نیست در درجِ لافـــــتا و بـــــــدر برجِ هــــل اتی است

مادرم خیرالنساَء پرزند خاصِ مصطفی بر کمالِ او کلامِ : بضعة مـــــــني گـــــواه است

وز برادر گر بپرسي هست شاهداین حسن آن که سبط مصطفی و نور چشمِ مرتضی است

Download from: ketabton.com

هست عمم جعفر طیار که اندر باغ خلد دائمن پرواز او تا آشیـــــانِ کـــبریا است

حمزه سَرخیلي شهیدان باشدم عم پدر این چنین اصل و نسب در جمله عالم که را است ؟

ای ستمگاران سنگین دل که اخلاق شما بې وفائي و نفاق و حیله و جور و جفا است

جمله پرزدان و خویشان و عزیزان مرا قتل کردید این چه آئین است و این طغیان که را است ؟

وین زمان بهر هلاک مَن کمر بر بسته اید کشتن من در کدامین مذهب و ملت روا است ؟

تشنه لب رفتند یاران من از پی روم در قیـــامت حـــضرت حق حاکم ما و شما است.

حاصل دادي چي دمخه ترشروع دجنگ او په جریان کښي دجنګ په مختلفو وارو حضرت امام حسین ویزیدیانوته له فصاحت او بلاغت څخه ډکي دوعظ او نصیحت ویناوي وکړې ،مګرخوددوی بدبختانو، ماده فرستانو اودین فروشانو په زړو کښي یې هیڅ اثرونکړ .

نورالائمة � له امام جاروالله څخه روایت کړئ دئ چي کله حضرت امام حسین قصد دجنګ او د حملې پر یزیدیانو مردودانو باندي وکړ ناڅاپه یو قسم ګرد او غبار پیدا سو چي په نتیجه کښي یې داسي حالت رامنځته سو چي یوه سړي بل سړئ نسواږ لیدلاږ ، له دغه حالت سره پیوسته یو هیبتناک شخص ښکاره سو چي پر یوه مَرکَب باندي ناست ؤ او په دغو الفاظو سره یې پر حضرت حسین باندي سلام ووایه :

السلام علیکَ و علی جدکَ و علی ابیک و علی أمِّکَ !

امام حسین ورته وفرمایل چي ته څوک یې ؟

ده ورته وویل چي اې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) بچیه ! زه د پیرانانو سردار یم ، اجازه راکړه چي خپل فوج پر دغو مردودانو باندي په حمله کولو سره امر کړم ، بیت :

دوستان را شاد گردانم بتوفیق خدائ وین سِتمگاران سرکښ را در اندازم ز پائ

دغه رئیس د پیرانانو � زعفر � نومیدئ ، حضرت حسین اجازه ورنکړه او ورته وې ویل:

جزاک اللهُ خیراً یا زعفر !

لنډه دا چي په یواځي سر امام حسین ډېر کرته له یزیدیانو سره وجنګیدئ او بیا به یو ځل و خپل أهل بیت ته ورغلئ ، اخیر یوه ظالم دَی مبارک پر تندي مبارک باندي په غشي ووشتئ ، ده مبارک غشی له تندي څخه راکش کړ او وینه بې پر سر او مخ باندي موښله او داسي بې ویل چي و حضرت محمد رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته به په دغه حال کښي ورځم.

Download from: ketabton.com

دده مبارک مخ د یزیدیانوپه نیزو ، غشو او تیغ ۷۲ ځایه زخمي سو ، بیت :

سهل ُ کاري نیست خون آلِ أحمد(ص) ریختن خاک غم بر فرق پرزند محمد( ص) بیختن

اخیر امام حسین د ډېرو زخمو او د بدن د سختي کمزورۍ په وجه پر ځمکه باندي وغورځېدئ ، ټوله مځکه په لړزه کښي راغله او د اسمانو له طرفه ځخه چغي او بغاري راپورته سولې ، په دغه حال کښي دوه نامردان چي تیغ او برچه یې په لاس کښي وه او هر یوه ددې کوښښ کاوه چي د حضرت امام حسین (رضي الله عنه) سر مبارک پري کړي چي ددې په بدل کښي بیا د � عبید الله بن زیاد� او د یزید � علیه اللعنة � له طرفه شاباسی ، بخششي او انعام وګټي .

په دغو دوو نفرو کي یو � سنان بن أنس � او بل � شمر بن ذي الجوشن � نومیدئ ، خو په دوی کښي شمر �ملعون� تر سنان مخکي سو او د امام حسین پر سینه باندي کښینستئ ، حضرت حسین (رض) سترګي مبارکي روڼي کړې او وشمر � ملعون � ته یې وکتل او ورته وې ویل چي ته څوک یې ؟

ده ورته وویل چي زه شمر بن ذي الجوشن یم !

امام حسین ورته وفرمایل چي ته خپل مخ راته لوڅ کړه ! شمر چي مخ ورته لوڅ کړ غاښونه یې د خنزیر په ډول له خولې ځخه راوتلي وه ، امام حسین ورته وفرمایل چي دا یوه نښانه خو صحیح سوه ، بیا یې ورته وویل چي ته دي سینه هم راته لوڅه کړه ! شمر چي سینه لوڅه کړه نو پر سینه باندي یې د برص او پیس یو قسم داغ ؤ ، امام حسین وفرمایل چي دا نښانه هم صحیح سوه ، نن شپه ما رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په خوب ولیدئ او راته وې ویل چي صبا به د ماپښین د لمانځه پر ټیم ته له ماسره یو ځائ کیږې ، او قتلونکئ ستا به داسي څوک وي چي ته ورته وګوري غاښونه بې د خنزیر وي او پر سینه باندي بې د پیس داغ وي .

بیا یې و شمر �ملعون� ته وویل چي شمره دغه کومه ورځ ده ؟ هغه ورته وویل چي د جمعې او عاشورآء ورځ ده .

بیا یې ورته وویل چي دا کوم ساعت دئ ؟ شمر ورته وویل چي دا د جمعې د لمانځه د خطبې وخت دئ ، نو امام حسین ورته وفرمایل چي په دغه ساعت کښي خطیبان د أمت د نیکه ځما سربیره پر ممبرو باندي خطبې وایي او ځما د نیکه صفتونه کوي او ته له ما سره دا معامله کوې ، اې شمره ! حضرت رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خپل مبارک مخ ځما پر سینه او ځیګر باندي ایښئ دئ او ته اوس پر هغه ځائ باندي ځما د قتل لپاره ناست یې او رسول الله زه په دغه حلق مچ کړئ یم او ته اوس غواړې چي ځما هغه حلق راپرې کړې ، او په دغه حال کي زه اوس د حضرت زکریا (ع) روح و خپل راسته طرف ته او د حضرت یحیی (ع) روح و خپل چپه طرف ته وینم ، اې شمره ! دوني قدر ماپرېږده چي پر لمانځه باندي کښینم بیا چي څه دي زړه غواړي هغه وکړه .

Download from: ketabton.com

بیا شمر (ملعون ) ورڅخه لیري سو او حضرت امام حسین په لمانځه شروع وکړه ، کله چي امام حسین پر سجده باندي سو نو شمر ( ملعون ) دده مبارک سر ورپرې کړ .

په دې وخت کښي په هوا کښي پرشته ګانو او د کربلا په ټولو طرفو کښي جنیانو چغاري او بغاري شروع کړې ، مځکه د الهي غضب په وجه په حرکت کښي راغله ، د هوا په مرغانو کښي چغي ګډې سوې ، ماهیانو له دریابو څخه ځانونه راوایستل او پر مځکه باندي تپیدل ، په دریابو کښي غټې څاپو ګاني او موجونه پیدا سول ، له غرو څخه د غم او درد اوازونه اوریدل کیدل ، چي یوه شاعر دغه ټول په دې ډول تعبیر کړیدي :

اندرین غم نه همین ارض و سما بـگـریستند که أهل عالم از ثریا تا ثری بگریستند

آفتاب و ماه و عرش و کرسي و لوح و قلم درغم شاه شهـــــید کـــربلا بگریستند

در هوایـــي آن لب مـــــــحروم از آب فــــرات ماه اندر آب و مرغان در هوا بگریستند

او لیاء گشتند بهر مرتــضی زاري کنان انبــــیاء بر اتفاق مصطفی بگریستند

در قصور جنت الفردوس حـــوران سر بسر از برایي خاطر خیرالنــــسآء بگریستند.

یو سړئ له هغو مردودانو څخه چي د حضرت امام حسین سر یې و شام ته وړئ ( چي ټول پنځوس نفره وه ) قصه کوي چي موږ به په دې سفر کښي د امام حسین سر په منځ کښي کښینښووئ او او بیا به دغو ملګرو ځما شراب چښل ، زه به یو څه ګوښه کښینستم او پټ به مي پر دغه خپل شقاوت او بدبختي باندي ژړل ، یوه شپه دغه ځما ملعون او مردود ملګري د شرابو له چښلو څخه وروسته بیده سول او زه نسوم بیده ، ناڅاپه مي اواز او ژړا واوریدله او هیڅ سړئ مي نه لیدئ چي اسمان ته مي وکتل یوه دروازه د اسمان خلاصه سوه او یوه نوراني خیمه راکښته سوه ، د امام حسین دسر پر برابر په هوا کښي ودریدله او درې نفره راکښته سول او د امام حسین د سر زیارت یې وکړ ، یو سړئ چئ شنه کالي یې اغوستي وو او سپینه لنګوټه یې پر سر وه ځما وسر ته ولاړ ؤ ، ما له هغه څخه پوښتنه وکړه چي دا څوک دي ؟

ده راته وویل چي دایو جبرئیل او بل میکائیل او دریم اسرافیل ( علیهم السلام) دئ.

بیا جبریل (ع) و دغي خیمې ته ورغلئ او وې ویل چي : یا صفي الله ! راکښته سه !

نو حضرت آدم ، حرت شیث او حضرت ادریس (علیهم السلام) راکښته سول او د امام حسین دسر زیارت یې وکړ ، بیا جبریل (ع) و خیمې ته ورغلئ او وې ویل چي : یا نجي الله ! راکښته سه !

نو حضرت نوح او سام بن نوح راکښته سول او د حضرت حسین د سر مبارک زیارت یې وکړ ، بیا جبرئیل وویل چي : یا خلیل الله ! راکښته سه !

Download from: ketabton.com

نو حضرت ابراهیم ، اسماعیل او اسحق (علیهم السلام ) راکښته سول ، بیا یې وویل چې : یا کلیم الله ! راکښته سه !

نو حضرت موسی او هارون (علیهم السلام ) راکښته سول ، بیا یې وویل چې یاروحَ الله ! راکښته سه

نو حضرت عیسی او شمعون (علیهم السلام ) راکښته سول ، بیا یې وویل چې یا حبیب الله ! راکښته سه!

نو حضرت رسول أکرم محمد مصطفی (صلی الله علیه وسلم) سره له صحابه کرامو ، علي ، حسن ، حمزه او جعفر طیار (رضي الله عنهم ) راکښته سول او د حضرت امام حسین د سر مبارک زیارت یې وکړ .

په دې اړه نور بیا...

محترمو مسلمانانو ! په دې برخه کښې د حضرت امام حسین (رض) د قیامي ، په مقابل کې د یزید مردود دشرعي حکم په اړه بیان درته کوم ، خو تر دې له مخه د حضرت امام حسین د قبر او دده د سر مبارک په اړه څه بیانوم .

قبر د امام حسین (رضي الله عنه) :

ابن کثیر په � البدایة والنهایة � ج ۸ ص ٦۰۱کښې ذکر کړیدي :

و أما قبر الحسین (رض) فقد اشتهر عند کثیر من المتأخرینَ أنه في مَشهَدِ علي ، بمکانٍ منَ الطف عندَ نهرِ کربلا ، فیقالُ إنَّ ذالک المشهد مبنِي علی قبرِه فالله أعلم .

همدارنگه دە ذکر کړیدي چي ابن جریر وغیره ویلي دي چې د حضرت امام حسین د قتلیدلو ځائ نامعلومه سوئ دئ او وهیچا ته په دې باره کښې د تعین کوم دلیل نسته ، او ابو نعیم فضل بن دکین به پر هر هغه چا باندي انکار کاوئ چي هغه به ویل چي ما ته د حسین قبر رامعلوم دئ ، او په دې باره کښې ځیني نور قولونه هم سته .

د حضرت حسین (رضي الله عنه ) سر مبارک :

ابن کثیر په دې باره کښې داسي ذکر کړیدي چي د أهل تاریخ او د أهل سِیرَ په نزد دا خبره مشهوره ده چي دده مبارک سر ابن زیاد و یزید بن معاویه ته ورولیږئ ، بیا په دې اړه علماوو اختلاف کړئ دئ چي د حضرت امام حسین سر مبارک بیا په کوم ځائ کښې ښخ کړسو ، یو قول دادئ چي یزید د امام حسین سر مبارک و عَمرو بن سَعد ته ( چي د مدینې منورې والي ؤ د یزید له طرفه ) ولیږئ بیا عَمرو دده سر مبارک په بقیع کښې د فاطمة الزهرآء له قبره سره نژدې ښخ کړ .

او بل قول دادئ چي سر مبارک دده د یزید بن معاویه په خزانه کښې پروت ؤ ، بیا د یزید له مرگ څخه وروسته دده سر مبارک په کفن کښې داخل کړ سو او په داخل کښې د � بابُ الفرادیس � د ښار د دِمشق ښخ کړسو چي اوس هغه ځائ په مسجد الرأس سره شهرت لري .

Download from: ketabton.com

او إبن عَساکر په خپل تاريخ کښي ذکر کړيدي چي کله چي د امام حسين سر د يزيد په حضور کښي کيښودل سو نو ده ملعون د ابن زبْعَري دغه شعر ووايه :

ليتَ اشياخي بِبَدرٍ شهِدوا جزَع الخزرجُ مِن وَقعِ الأَصَلِ

بيا يې دده مبارک سر دريِ ورځي په دِمَشق کي راځړولئ ، بيا يې د اسلحو په خزانو کښي کيښودئ تر څو چي بيا سليمان بن عبدالملک په خپل دور کښي کفن ورکړ او خوشبويي يې پر ولګوله او د جنازې لمونځ يې باندي ادا کړ او د مسلمانانو په مقبره کښي يې ښخ کړ .

او يو قول داسي هم راغلئ دئ چي په ٦٦٠ سنه کښي د امام حسين سر مبارک و مصر ته يوووړل سو او بيا زيارت پر جوړ کړ سو چي په � تاج الحسين � سره مشهور دئ ، خو دا قول صحيح ندئ ( البداية والنهاية ) .

خو دلته په يوه بله مسئله هم سر خلاصول پکار دي هغه دا چي د امام حسين د قتل په وجه غمګيني او پريشاني کول په چوکاټ کښي د حدودو د شريعت شرعًا څه حکم لري ؟

ابن کثير په � البداية والنهاية � ج٨ ص ٦٠٠کښي داسي ويلي دي :

فکل مسلمٍ ينبغي له أن يحزنَه قتله رضي الله عنه فإنه مِن سادات المسلمينَ و علمآَء الصحابَة و إبن بنت رسول اللهِ التي هي أَفضلُ بناته ، وقد کانَ عابدًا و شُجاعًا و سَخيا و لکن لايحسن ما يَفعلُه الشيعة من اظهار الجزَع والحرزن الذي لعل أکثره تسنن و ريآَء .

يعني : نو هر مسلمان ته دا ښايي چي د امام حسين په شهادت غمجن سي ؛ ځکه چي دَی د مسلمانانو له سردارانو څخه ؤ او له علماوو د صحابه و څخه ؤ او د رسول (صلی الله عليه وسلم) د هغي لور ځوی ؤ چي تر ټولو لوڼو پر ده مبارک باندي ګرانه وه ، او عابد ، شجاع او سخي ؤ ، مګر خو هغه ډول کارونه ښه ندي کوم چي شيعه ګان يې کوي .

صاحب د تفسير حسيني په �روضة الشهدآَء� کښي داسي مضمون ذکر کړئ دئ چي پر دې باندي دلالت کوي چي د عاشورآَء او د محرم په لسو ورځو کښي د امام حسين په وجه غم او پريشاني د ډير اجر او برکت سبب ګرځي .

خبرداری :

محترمو ! دلسمي برخي بيان چي د شهادت د امام حسين تير سوئ دئ مکمل له �روضة الشهدآَء � څخه مأخوذ سوئ دئ

Download from: ketabton.com

## د یزید بن معاویه قبائح او پر ده باندي د لعنت ویلو شرعي حکم

بسمه تعالی !!

محترمو مسلمانانو ! په دې برخه کښې د یزید په باب ځینې أهم او ضروري داسي تفصیلات درته ذکر کوم چي د أهل السنت والجماعت له عقیدې سره موافق او د أهل السنت د علماؤ له معتبرو کتابو څخه مأخوذ دي .

یزید په ۲۵هـ او چا ویلي دي چي په ۲٦هـ او چا ویلي دي چي په ۲۸هـ کي پیدا سوئ دئ ، او له خپل پلار معاویه څخه وروسته یې درې کاله او یو څو میاشتي امارت کړئ دئ ( کذا في جامع الأصول ) .

کوم قبیح او ناروا کارونه چي یزید کول هغه په دې شرحه دي :

د شرابو چښل ، ارتکاب د زنا ، استحلال د محارمو ، د الله (جل جلاله ) د بیتې بې ادبي کول ، د مسجد نبوي بې احترامي کول وغیرها ( کذا في النبراس وحاشیته ) .

خو دغه ټول کارونه دده و درو عقل حیرانونکو فسادو ته دده ( العیاذ بالله) لکه عبادت داسي ښکاره کیږي:

اول : په کربلا کښي د حضرت امام حسین (رضي الله تعالی عنه) په شمول دده مبارک د کورنۍ او مخلصینو ۷۳ نفره په داسي ډول په شهادت رسول چي د کافر زړه یې هم نسي برداشتولاۍ ، او بیا د امام حسین سر مبارک پریکول ، بیا دده و حضورته وروړل ، او یا دده مبارک سر د حلقې او مجلس په منځ کي چښل چا و خوا شراب ورته چښل لکه چي تفصیل یې په تیره برخه کښي تیر سوئ دئ .

دوهم : کله چي د مدینې منورې خلګ دده په مقابل کښي ودریدل ، نو ده و خپل فوج او عسکرو ته پر مدینه باندي د حملې کولو حکم ورکړ ، او دایې ورته وویل چي درې ورځي مدینه و تاسي ته حلاله ده ، هر څه چي په مدینه کښي کوۍ درته اجازه ده ، چي په نتیجه کښي یې ۱۰۰۰ ښځي د مدینې د اوسیدونکیو ددوۍ له زناکارۍ څخه حملداري سوې ، سره له دې چي په مدینه منوره کښي د أصحاب کرامو کورونه هم موجود ول .

دریم : د عبد الله ابن زبیر ( رضي الله عنه) په مقابل کښي د الله (جل جلاله) پر حرم او کعبه شریفه باندي و خپل فوج ته حکم ورکول او بیا هغه تر سره کول ( انظر البدایة والنهایة ، تاریخ طبري وغیره ) .

پر یزید باندي د لعنت ویلو د جواز په باب د علماوو او امامانو د أهل السنت والجماعت نظرونه :

محترمو ورو نو ! په دې باره کښي د أهل السنت والجماعت د علماؤ نظرونه مختلف دي .

Download from: ketabton.com

په خلاصه کښي چي په حنفي فقه کښي خورا معتمد کتاب دئ ، او دارنګه په احیآء العلوم کښي د امام حجة الإسلام ابو حامد غزالي داسي ذکر دي چي پر یزید باندي او دارنګه پر حجاج بن یوسف باندي لعنت ویل روا ندي ؛ ځکه چي نبي (صلی الله علیه وسلم ) پر هغو خلګو باندي له لعنت ویلو څخه منع کړېده کوم چي لمونځونه کوي او له أهل قبلې څخه وي.

او ځینو علماوو د أهل السنت ، لکه امام ابن الجوزي ، امام أحمد بن حنبل ، قاضي ابو یعلی وغیره بیا په دې نظر دي چي علی الإطلاق پر یزید � ملعون� باندي لعنت ویل جائز دي .

امام ابن جوزي په دې باره کښي مستقل کتاب جور کړئ دئ او په دې نامه سره یې مسمی کړئ دئ : الرد علی المتعصب العنید المانع عن ذم یزید .

او امام أحمد بن حنبل (رح) بیا په دې آیت سره دلیل نیولئ دئ چي الله (عز وجل) فرمایلي دي :

فهل عسیتم إن تولیتم أن تُفسدوا في الأرض و تقطعوا أرحامکم الئک الذین لعنهم الله .

او قاضي ابو یعلی په دې مبارک حدیث دلیل نیولئ دئ چي ر سول ( علیه الصلوة والسلام) فرمایلي دي :

مَن أخافَ أهلَ المدینةِ أخافَه اللهُ و علیه لعنة الله والملئکة و الناس اجمعین .

)انظر النبراسَ و لمزید التفصیل البدایة والنهایة ج ٨ . (

او علامة التفتازاني ( رحمه الله تعالی) په شرح العقاید کښي د � قول فیصل � په ډول داسي فرمایلي دي :

و الحق أن الرضا یزید بقتل الحسین (رض) و استبشاره بذلک و إهانته أهل بیت النبي (صلی الله علیه وسلم) مما تواتر معناه و إن کان تفاصیله احادًا ، فنحن لا نتوقف في شانه بل نتوقف في ایمانه ، لعنة الله علیه و علی انصاره و علی أعوانه .

البته د أحنافو د علماوو میلان و دې طرف ته دئ چي پر یزید باندي باید لعنت ونکړ سي ، لکه چي د خلاصې خبر درته ذکر سوه .

په � رشید بیان � کښي لا هم داسي راځي :

لعنت مکړه پر یزید چي له رفضه شې بعید

صاحب د نبراس په ص٥٥۴ کښي په دې اړه خورا په زړه پوري تحقیق کړئ دئ .

Download from: ketabton.com

ابن تیمیة په خپله فتاوی کښي ذکر کړیدي چي د یزید په اړه خلګ درې ډلي دي : یوه ډله یې کافر بولي ، بله ډله یې فاسق او فاجر بولي او بله ډله یې تر حضرت أبوبکر هم بهتر بولي ، خو صحیح خبره داده چي د مابین په قول عمل وکړ سي .

)والسلام و من الله التوفیق ، و هذا اخیر ما اردناه بمناسبة المحرم الحرام و شهدآء کربلا ، ونسأل اللهَ أجره و ثوابه وبرکاته(

Download from: ketabton.com